

# جنتي خاوره ـ ـ
# دوزخي ژوند

طلا محمد شباب

بريښنا ګرافکس

# عجيبه خبره

دوزخي ژوند ، جنتي خاؤره ، عجيبه خبره
دومره بخيله غني خاؤره ، عجيبه خبره

پُښتني ميندې ، اوس غُلام ابنِ غُلام زيږوي
د ابدالي جلالي خاؤره ، عجيبه خبره

د کتاب ټول واک، اختیار او حق د طلا محمد شباب دے

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | جنتي خاؤره ۔ دوزخي ژوند |
| لیکونکے | طلا محمد شباب |
| | چم زانکي خیل کلے ډاګي ضلع صوابي |
| | 0345-9508912 , 0300-5726402 |
| ړومبے چاپ | اګست 2009 |
| تعداد | یو زر |
| بیه | سل روپۍ |
| کمپوزر | ایم عثمان تصوّر |
| | بریښنا ګرافکس شیوه اډه (صوابي) |
| | 0300-6244125 |

## خوروُنکي

- رڼا ادبي ټولنه ترکي رشکۍ (صوابي)
- صوابي ادبي ټولنه (صوابي)

## د موندلو درکونه

- یونیورسټي بُک ایجنسي پیښور
- شعیب نیوز ایجنسي صوابي
- بریښنا ګرافکس کمپیوټرز شیوه اډه

# ترون

د مخه پښتون رهبر افضل خان (خان لالا) په نوم ځوک چې د وخت ترهه کر ته په خپل سنګر کښې لکه د اِیلم د غر کلک اولاړ دے۔ د ملّي وحدت قائل، د اَمن طلبګار د واضحه موقف څښتن زه د حالاتو په تیَرو کښې د سبا د ستوری ځل کړم۔

○

د خوشحال روح دې مُسکے کړو
باچا خان دې را ژوندے کړو
سر دې تیټ نه کړو وحشت ته
یُوسفزے دې یُوسفزے کړو

# تړون

د هغه نظار علي په نوم چې پښتو وئيلي ، ليکلې ، لوستلې او پاللې هم شي۔ په خپل قام ،وطن، کلتور او ژبه مئين په خپل پښتون زړهٔ کښې ساهو پښتنه مينه او وينه لري۔



نظار علي

# د شباب رنګونه

حالات زمونږ نه تقاضا د مصلحت نۀ کوي
دور پرهر پرهر تصویر د خپل ارمان غواړي
څوک د مهدي پۀ انتظار څۀ مسیحا ته ناست دي
پښتون سنګر خو د شیرشاه غوندې نر ځوان غواړي

(شباب)

طلا محمد شباب د صوابۍ د سیمې د څلمي کُول یو نمائینده لیکوال دے۔ چې ښۀ شاعر هم دے او ښۀ نثر نګار هم۔ د دې نه وړاندې ئې یوه شعري مجموعه د "ګُل ګکرونه" پۀ نوم چاپ شوې ده۔ او اوس ئې بل کتاب "جنتي خاوره دوزخي ژوند" چاپ کیدونکے دے۔ دا نه چې هغه صرف یو لیکوال دے۔ بلکې د پښتو ژبې هر مجلس کښې حاضر او چمتو وي۔ د "وړمې" کښې مدیر اعلیٰ دے۔ د صوابۍ ادبي ټولنې او قلمي تړون صدر هم دے۔ د هغۀ ادبي خدمات د ستاینې وړ دي۔ هغه صرف د خیال پۀ دنیا کښې نۀ اوسي د عمل پۀ میدان کښې ملا تړلے ولاړ دے۔ ډیره مطالعه لري لویو پوهانو او لیکوالو سره یې ناسته پاسته کړې ده۔ او ډیر څۀ یې ترې زده کړي دي۔ اوس پخپله هم ښۀ ادبي پوهه او معلومات لري زۀ د شباب مطالعې ته حیران او ګوته پۀ خُلۀ یم۔ زۀ د هغه د دغې پوهې او بې لوثه خدمت ته ډیر پۀ درووند نظر ګورم۔

نثر هم ډیر ښکلے لیکي۔ ګڼ شمیر مضامین کالمونه، ډرامې، افسانې او

مقالې يې ليکلې دي. کوم چې ګڼو اخبارونو او رسالو کښې چاپ شوي هم دي. د ريډيو او ټي وي په پروګرامونو کښې هم حصه اخلي څه کلام ئې په ريډيو او ټي وي سندرغاړو وئيلے هم دے. خلق ئې کلام خوښوي. دغه ئې د ادبي لوړ مقام يو ثبوت دے. د ليک اډانه ئې په ترقي پسندۍ او قامولي ولاړه ده . دا منم چې لا شباب دے خو عشقيه شاعري يې دومره کمه ده چې د نيشت برابر ده. شباب په خټه پښتون دے ځکه پښتو ژبه او کلتور خپل ايمان ګڼي پښتون قام خپل شناخت او فخر ګڼي. ځکه د دې قام په ښه خوشحاله او په بده خفه کيږي. د پښتون قام په بربادۍ خفه دے. ځکه خووائي.

د پښتو د خېبر د پاره
هغه زوړ کچکول راواخله
پُښتنه ناوې سينګار کړه
پُښتانهٔ ورله جنجيان کړه
دا تاله وطن جنت کړه
خپل رهبر دې باچا خان کړه

او چې کله هغه په خپل چاپېر چل کښې، بې انصافي استحصال، لوړه ژوره ، بې وسي وينې نو حساس شعور ئې اوژړيږي او د انقلاب يوه چغه شي.

وائي ستا قلم باغي فکر مُرتد دے
زهٔ شباب چې د رڼا سندرې وايم

دې کښې شک نيشته چې شباب قام پرست دے. خو دې سره سره هغه

انسان دوست او ترقي پسند هم دے۔ اصلي قام پرست هم هغه وي چې د هر قوم حق مني او ځان له هم خپل جائز حق غواړي۔ څومره پورې چې د ترقي پسندۍ تعلق دے۔ نو هر انسان انفرادي او اجتماعي طور د ژوند په هر میدان۔ بدلون۔ جدت۔ ترقي او د خپلې زمانې سره مطابقت غواړي۔ او که داسې نۀ وي۔ نو روستو پاتې کیږي۔ دې ته ترقي پسندي وائي۔ يو شاعر چې د خپل دور د معاشرې مُشاهده کوي۔ چې کوم څیزونه ورته غلط او غیر موزون ښکاره شي نو هغه پۀ ګوته کوي او اصلاح ئې هم غواړي د شباب نوې شاعري ترقي پسندي ده کوم چې د وخت ضرورت دے۔

ماسټر شیر افضل افضل (ریټائرډ پرنسپل)

سرپرست اعلیٰ قلمي ترون صوابي

01-07-09

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

## د طلا محمد شباب شاعري

د زړهٔ غوټې چې پهٔ کښې ګُل نهٔ شي ، سپرلي څهٔ کوو
راته پهٔ ښه سترګه چې نهٔ ګوري ، ساقي څهٔ کوو
چې نهٔ آزاد يم او نهٔ ښاد اوسم ، جنت وطن کښې
چې زندګي مو جهنم دے ، دلبري څهٔ کوو

---

ما چې د شباب دويمه شعري مجموعه "جنتي خاورهٔ دوزخي ژوند" ولوسته نو ما دا خبره محسوس کړه چې هغه د فن او خيال پهٔ حواله د ارتقاء پهٔ لور وړاندې تګ کړے دے۔ د خپل ځانګړي اسلوب پهٔ سوب خپل شناخت هم لري۔ دغه ديو ښهٔ شاعر ثبوت او دليل وي۔

بله دا چې شباب خپل ټول رنګونه د خپل وطن او بې وزله اولس پهٔ کار راوستي دي۔ د هغهٔ شاعري د بوډۍ د ټال پهٔ شان هغه واړه ښکلي رنګونه لري۔ کوم چې پهٔ سترګو ښه لګي زړهٔ او ذهن ته کوزيږي۔

د شباب د پښتو ژبې سره ناوياته مينه د ستائينې وړ ده د هغه دا شعري مجموعه "د شباب رنګونه" د پښتو ژبې پښتون اولس او پښتو شعر و ادب له يوه د سود ډالي ده۔

محمد اقبال اقبال مردان

01-02-09

پهٔ یو لاس کښې مې قلم دے بل کښې توره
د پښتو جګه شمله مې هم پهٔ سر ده

دا یو شعر د شباب صیب د شخصیت پوره احاطه کوی شباب صیب د قلم خاوند دے۔ پښتون دے او د توره بازۍ دعویٰ هم کوی۔ یعنې خپل خان د ستر خوشحال بابا د ذهن پښتون ګڼی۔

زهٔ د شباب صیب سره ناست پاست یم د هغهٔ سره د خبرو اترو بحث و مباحثې نه او د هغهٔ د شعر و شاعرۍ نه پهٔ دې اندازه رسیدلے یم چې هغه یو کلک ترقی خوښ پښتون حیثیت باندې فخر څهٔ پهٔ دې ډول کوی۔

زما مینه زما وینه پښتنه ده
زهٔ د خپلې پښتونخوا سندرې وایم

د خوشحالی د سندرو وئیلو د پاره د امن فضا ضروری وی۔ او پهٔ پښتنه خاوره د امن فضا کالعدم کړې شوې ده۔ پهٔ دې سیمه د ګولو او بارودو د لوګو او لمبو نه او د وینو اوښکو د سیلابونو نه علاوه بل څهٔ پهٔ نظر نهٔ راځی دلته د بدامنۍ سپیرهٔ، بې خونده او ناروا موسیقی د ډزو، چاؤدنو، ژړاګانو او اهونو پهٔ شکل کښې غبرېږی ۔ د روا موسیقی غږولو او اوریدلو حالات تر لرې لرې پهٔ نظر نهٔ راځی۔ لکه چې هغه وائی۔

دلته مطربه ! له فِضا د امن جوړه نهٔ ده
شور د بارود لا نغمو سره جنګونه کوی

شباب صيب د ژور او روښانه فکر سختن دے۔ يو ليکلے لوستلے شاعر اديب دے۔ مطالعه ئې ډيره کړې ده۔ د زيرک احساس مالک دے۔ د حالاتو واقعاتو ښۀ تجزيه کولے شي۔ د دې او سنۍ ګرمې لوبې لوبغاړې ښۀ پيژني۔ د کُلهمې نړۍ په بدامنۍ ئې نظر دے۔ خصوصاً د پُښتو په نسل کشۍ او کډوالۍ ذهير دے۔ د مظلوم اولس د شهيدانو د تنو خاوړې ايرې د دغه لوبغاړو بې رحمه وړو او حِرص ناکو بې حيا سترګو ته په دې ډول نولي۔

د ډالرو سخے ژوندے دے موسیٰؑ راشه
سامرے د واشنګټن د نړۍ خان دے

شباب صيب په دې پوهه دے چې کۀ د پُښتنو په سيمه کښې د بعضې زورآورو د لاسه د انصاف لمن تار تار شوې نۀ وے نو خارجي دُښمن په دې سيمه کښې داخلي دله لان او تالي سټ منافقان چرې هم پيدا کولے نۀ شول۔ لکه چې وائي۔

دلته لفظونو له زر زور بدلې کړې معنې
هوښياره مۀ چيره د عقل د کتاب پانه

د پښتو ژبې، پُښتني خاوړې او پښتون اولس سره د شباب صيب د بې کچه ليونۍ مينې نۀ څۀ داسې څرګندېږي لکه دے چې د بابا باچاخان، بابا عبدالصمد خان اَچکزی او د بابا محمد افضل خان عرف خان لالا د دربار يو د اولیٰ درجې مستانه بالکے وی۔

عبدالرحيم روغانے

متّه سوات 09-06-01

PUKHTO.NET

د پښتو پالنه او روزنه ليکوالانو او شاعرانو ته پاتې ده. د پښتو مينان په دې قاتلو حالاتو کښې نهٔ صرف ژوندي دي. بلکې اَدب له خپلې وينې هم ورکوي چې د مخ سوهٔ ئې سيوا شي. په داسې حساسو او ژوندو شاعرانو کښې طلامحمد شباب د ستائنې وړ دے. د هغهٔ په شاعرۍ کهٔ د شباب رنګ خور دے، نو نثر ئې هم د طلاکارۍ نمونه ده.

طلامحمد چې اوس ئې پهٔ ادبي خلقو کښې "شباب" پېژندګلو جوړه شوې ده. د هغه د ذهن او فکر نهٔ صرف ځوانان دي، بلکې توانا هم دي. رښتيا خبره ده چې شاعر تل ځوان او ژوندے وي. د شباب فن، د شعر او نثر يوه ښائيسته شاهکار دے.

د هغه پهٔ نغمو کښې ترقي پسند سوچ او د قام پالۍ رنګونه، لکه د بُوډۍ د ټال پهٔ جُوټو دي.

هر څوک د خپلې سيمې بدائي وائي، خو کهٔ دا ووايم چې رزړ (صوابي) يو سپرلن غزل زار دے، نو بې ځايه به نهٔ وي، او شباب د رزړ د چمن يو اصلي ګلاب دے. چې د حالاتو د ترېخوالي باوجود د خپلې وړمې او رنګونه خوري.

د شباب صيب د ټولو نه قابل قدر کارنامه، زما پهٔ خيال "وړمې" مجله ده. چې د ادب مينانو ورته جولۍ جولۍ پېرزوئنې او عقيدتونه وړاندې کړې دي.

PUKHTO.NET

کاش ! چې د شباب د غه "بچی" بیا رو غتیا موندلې وے۔۔۔۔۔۔ څهٔ وکړو؟ پهٔ دې ګرانه ګرانۍ کښې لیکوالان نهٔ صرف د معاشي کړکیچونو سره مخ دي۔ بلکې د قام پرستو لیډرانو نه ئې ګیله مانه هم پهٔ ځائے ده۔

زهٔ د شباب صیب کلام څکه د نمونې پهٔ توګه پهٔ دې سر ټکو کښې نهٔ راوړم چې د تجسُس احساس مته کور نهٔ شی۔۔۔ آخر څهٔ پټ میړهٔ نهٔ دے تاسو ئې ولولئ۔۔۔ خوند، رنګ او ترنګ هر څهٔ به ووینئ۔

د خدائے پهٔ آمان

پروفیسر جمیل یوسفزے (غلامان)

۱۲ جون ۲۰۰۹

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## د طلامحمد شبابؔ شاعري

ځۀ پۀ کلي تربنه د میني ، بنیرازي ومومي
دا کاریزې د رقابت غواړي لو ' لور جانانه
راوړه خواږۀ د نظرونو او خُمار د ځواني
نن مې د زړۀ پښور بیا دے اور اوګور جانانه
(شبابؔ)

طلا محمد شبابؔ د ډاګي (یارحسین) کلي پۀ یوه سیاسي کورني کښې پیدا شوے او لوے شوے دے۔ پلار نیکۀ ئې د باچا خان پۀ مشرۍ کښې د آزادۍ د مبارزې پۀ خاطر ډیرې مالي او جاني قرباني ورکړې دي۔ هغه ته دغه د قامولي فکرونه پۀ میراث کښې پاتې دي۔ خو شبابؔ د چا ړوند تقلید نۀ کوي۔ سیاست د شعور پۀ ډانګ کوي ځکه چې هغه عصري تقاضې پیژني۔ او پۀ رهبر او رهزن کښې تمیز هم کولے شي۔ هغه سحر هم پیژني او سکښے مابنام هم۔ کۀ زۀ دا اووایم چې شبابؔ ادب ته د سیاست پۀ لاره راغلے دے نو دا به بې ځایه نۀ وي۔ د هغه شاعري صرف د قافیې، ردیفونو او وزن بحر جوړښت نۀ دے بلکې یوه ځرګنده نظریه او سپځلے مرام پکښې لکه د نمر د ځیرې بریښي۔ هغه د ادب نه علاوه پۀ سیاسي ډګر هم د یو روښانه سباوُن پۀ ارمان بې لوئه کردار ادا کړے دے۔ خو قامي سیاست مدارو هغه مدام نظر انداز کړے دے۔ ځکه چې او سني سیاست پۀ خدمت کم او جیب زیات کیږي۔ شبابؔ زۀ ډیر د نزدې

نه پیژنم هغه یو خود داره بنیادم دے۔ هغه د سیاست مدارو چاپلوسی نه شي کولے۔ نو ځکه هغه د سیاست د ګرنګ نه د ادب دونکاچې ته راغے۔ او خپل ټول صلاحیتونه ئې د خپل مورنۍ ژبې، پښتو، په کار راوستل۔ هغه یو باعمله پښتون قلمکار دے۔

د "وړمې" کښې او د صوابي ادبي ټولنې په حواله د شباب په عملي توګه هلې ځلې د هېرولو نه دي۔ او چې کله هم په پښتونخوا کښې د پښتو ژبې او شعر و ادب د خدمت ذکر راځي۔ نو د شباب نوم به اَرو مرو اخیستے شي ځکه چې هغه پښتو خوړلے دے او پښتو ورله پُښتۍ ماتې کړې دي۔ هغه لکه د نمر ښکاره دے او نمر په ګُوته نۀ پټېږي۔ زۀ پخپله د یو ادنیٰ کارکُن په حیثیت په سیاسي ختو کښې بوخت وُم۔ او ډېر موده د خپلو ادبي ملګرو نه ډډې ته وُم ۔ دا د شباب د مینې او خلوص برکت دے۔ چې زۀ ئې یو ځل بیا خپلو ادبي روښو سره تاله کړم ۔ او د سحر ورک شوې ماښام کورته راغلم۔ هغه لا وړوکے وۀ او زۀ په نیشنل عوامي پارټۍ کښې وُم۔ ما (محبوب) پخوانے وزیر عبدالسبحان خان او پروفیسر فرمان الدین صیب، پښتون ځلمے (پښتون سټوډنټس فیډریشن) نوے نوے جوړ کړے وۀ۔ د دې ذکر اجمل خټک په خپل کتاب (قیصه زما د ادبي ژوند) کښې کړے دے۔ هغه وخت به په هره جلسه او جلوس کښې شامل وُم۔ اجمل خټک صیب راته شاعر شباب وئیلو۔ ما به د این۔ اے ۔ پي په سټېجونو خپل سیاسي نظمونه وړاندې کوُل۔ او شباب به ما پسې لکه د سبورې ګرځېدو۔ او زما اکثر نظمونه به ورته لکه د طوطي په یادو

یاد وو۔ ما به خدائے بخښلی ولی خان ته "ژوندے ولی" وئیلو۔

خلق مړو ته پراتۀ وی خېر ترې غواړی
پۀ ما فرض د ژوندی ولی زیارت دے
(محبوب)

او بیا ما د سیاسي وجوهاتو په بنا د سیاست پالېلی بدله کړه۔ (دلته ئې تفصیل مناسب نۀ گنړم) خو بیا هم هغه ماسره د قلم او پښتو رشته نۀ ده پرې کړې او دغه تسلسل لا ترننه جاری دے۔ شباب زما د مشری احترام کړې دے او ما د هغه د کشری خیال ساتلے دے۔ هغه ته د خپل ترقی پسندانه سوچ پۀ سوَب زیان هم رسیدلے دے څو څو ځله ئې تبادلې هم شوی دی۔ او معطل شوے هم دے۔ او ځنې تنگ نظرو پرې د کُفر تاپې هم لگولی دی۔ خو هغه د دې هر څۀ نه بې پروا د خپل مرام پۀ لور بۀ پۀ استقامت او استقلال روان دے د هغه پۀ غزلونو، نظمونو او قطعات کښې۔ قامی طبقاتی۔ او د حقیقت پسندی رنگونه لکه د ملغلرو ځلیږی۔ ژورې مطالعې او تیزې مشاهدې د هغه شعر ډونگے کړے دے۔ خو د دې مطلب دا هم نۀ دے چې کښې ابلاغ پکښې نیشته۔ شباب د فن او خیال سره پوره پوره انصاف کړے دے۔ د هغه شاعری۔ د روایت جدت۔ د ادبی او اولسی رنگونو امتزاج دے هم دغه د هغه یو ځانگړے اسلوب دے۔ کلام ئې زړۀ ته کوزیږی۔

زۀ هیله لرم چې لوستونکی به د شباب شاعری خوښه کړی زۀ د شباب پۀ دې قطعه خپلې خبرې رالنډوم۔

PUKHTO.NET

چې خوارې کوې نو خوار دې

چې تياره خورې مالدار دې

اُپوته غوندې دستور دې

مُلا وائي د خُدائے کار دے

وسلام

امير شاد محبوبؔ (يار حسين)

سرپرست اعلیٰ (صوابی ادبی تولنه)

چيف آرګنائزر پاکستان مسلم ليګ (ن)

ادبی وينګ صوبه پښتونخوا

05-07-09

PUKHTO.NET
پښتو جالـ پاڼه

# "جنتي خاوره ، دوزخي ژوند"

دا زما خوش بختي ده. چې زهٔ د پښتنو پهٔ ننګیالی خاوره زیږیدلے یم. خو د بده مرغه مې پهٔ دې جنتي خاوره. جنتي ژوند او نهٔ لیدو. او دا هم یو تریخ حقیقت دے چې عام پښتانهٔ وګړی پهٔ "جنتي خاوره دوزخي ژوند" تیره وی. او زهٔ هم لکه د نورو بدنصیبه پښتنو پهٔ شان پهٔ توک ډوډۍ پسې پهٔ پردی وطن کښې در پهٔ در ګرځم. هم دغه د طلامحمد شبابؔ د شاعرۍ عنوان دے. زهٔ پخپله شاعر ادیب نهٔ یم خو د پښتو ژبې یو ادنٰی مینه وال یم. خپلې ژبې ، کلتور ، خاورې ، او اولس باندې مئین یم

نن چې خبر شوم چې طلامحمد شبابؔ "جنتي خاوره ، دوزخي ژوند" پهٔ نوم دویمه شعری مجموعه چاپ کړی نو ډیر خوشحاله شوم. ولې چې طلامحمد شبابؔ هم پهٔ هغه خاوره زیږیدلے دے. پهٔ کومه چې ما خرپوسې کړې دی. زما د پاره خو ټول شاعران د قدر ور دی. چې دا د دوی د قلم برکت دے. چې پښتو ژبه ژوندۍ ده. طلامحمد شبابؔ هغه سترګه ور دے چې د خپلې مورنۍ ژبې پهٔ قدر پوهیږی. او کوم چې د خپل پرهر پرهر وطن او قام پهٔ درد دردمند دے. او تل ئې د پښتون قام د بریالیتوب او ودانۍ سندرې وئیلی دی.

زما یو ملګرے محمد ګل منصور وائی. " پهٔ خان مئین شه چې پهٔ ټول [illegible] مئین شې" خُدائے پاک دې زمونږ د وطن نه دا د جبر تیرې

ختمې کړی۔ خدائے دې په پُښتون قام کښې اتفاق راولی۔ او خُدائے دې زمونږ په زړونو کښې د خپلې مور پښتو سره مينه سيوا کړی۔ چې بيا شباب دا نۀ وائی۔

مونږ د لفظونو جادوګر چې افسانې ليکو شعرونه ليکو
د پښتنو د پاره ليکو او دې خپلې پښتونخوا له ليکو
چې پُښتانۀ پُښتو ليکلې او لوستلې نۀ شی
حيران په دې يمه ملګرو چې دا چاله ليکو

نظار علی دوبی (ډاګی)

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# د ژوند شاعر

اے زاهده زمونږ مينځ کښې فرق دا دے
ته د مرګ زه د بقاء سندې وايم

مخلص او وفا دار، زيرک پښتون په خپله خاوره، اولس او مورنۍ ژبه د جنون تر حده مئين او د باچا خان د فلسفې مريد په وينه کښې قامولي او ترقي پسندي ګډه ده۔ د طلامحمد شباب دا دويمه شعري مجموعه ما لوستې او اوريدلې ده۔ خو زه په ذاتي توګه د هغه نظم متاثره کړے يم۔ د دې نه علاوه نثر هم ښه ليکي عشقيه شاعري ئې په اوړو کښې د مالګې برابر ده هغه "ادب د ژوند له پاره" د نظريې قائل دے۔ په شعر کښې ئې د فن سره سره د مقصديت لمن نه ده پرېښې۔ د هر جابر او غاصب عندنه ئې ښه په جار کړې ده۔ په دې سوب زه هغه ته د ژوند شاعر وئيلے شم۔

فرمان علي ترکوال
جنرل سيکرټري
رڼا ادبي ټولنه ترکي، رشکي
صوابي ادبي ټولنه صوابي
25-06-09

PUKHTO.NET

# د شعور سپېڅکي

د شعور فضا کښې سیل کړمه باتُور یم
د مودو نه الوتو سره ، بلَد یم
د خپل فکر د نظر په دلیل ګرځم
په زړهٔ توره ! توررو شپو سره بَلَد یم

طلا محمد شباب چې ما په وړو مبې څل په یو ادبي اجلاس کښې ولیدلو نو هسې له ورایه مې د نرګسیت ښکار اوګڼلو خو چې د دغه ښکلي باوقاره شخصیت خبرې مې واورېدې کو مې چې هغه ډېر په احتیاط کوی. او یو یو ټکے د معنیٰ په تله تلي او بیا ئې مخاطب ته وړاندې کوی. نو پوهه شوم چې د ژورې مطالعې او تیزې مشاهدې سختن دے. او چې د هغهٔ شاعری مې اُولوسته چې د وخت د خدایانو نه ئې بغاوت کړې دے. خپل ځان ئې په مورچل اویزان کړے دے. او مُردار خور ئې ډکره ډکره خیګر خوری د شعور دا سپېڅکی د هغهٔ شاعری کښې د وخت او د ټولنې د غوښتنو پوهه ده. چې د طلا محمد شباب د طویل نظم ګویې او غزل بنیادی شعری نقطه اتصال ده او هر کله هر ځائے چې هغه د زر او زور د جبر او ستم نظام وینی نو غندنه ئې کوی. ګویه د هغه د شاعری بنیادی خاصه د غه د سماجی شعور سپېڅکی دی.

فیصل فاران مانکی

۰۶-۰۵-۲۰۰۹

## قام پرست او ترقي پسند شاعر

چې ته اَقا زه دې غلام ، نو حال مې څله پُوښتې ؟
غلام وګړے خو برباد دے ، لونګينه ياره
راځه چې جنګ ، نفرت ، غربت سره جنګونه اوکړو
دغه د نن اصلي جهاد دے ، لونګينه ياره

زه چې د طلا محمد شباب دويمه شعري مجموعه لولم کوم چې زما هم عصر ملګرے هم دے۔ نو زه داسې محسوسوم چې هغه ډير شاعران ملګري روستو پريښي دي۔ د دې ورانډې تک اندازه د هغه د شاعرۍ د اسلوب نه ښه په اسانه لګي۔ د هغه د ژورې مطالعې اثر د هغه په ښو نظمونو او غزلو کښې جوت دے۔ او هغه د پښتونخوا د قامي او طبقاتي ستونزو يعنې د مقصديت لمن هم ټينګه نيولې ده۔ او د يو پښتون شاعر په حيث ئې خپل حق تر ډيره حده ادا کړې دے۔

اطهر شاه باچا سليم خان

١٠-٠٦-٠٠٩

# طلا محمد شباب

دا شباب دے د پښتون د خاوړې وياړ دے
د دوران په کوازه باندې ولاړ دے
رنګيني د احساس په شرخه ريشي
په خپل قام ئې د غزل په کاسه ويشي
د پښتون د جماعت د صف امام دے
هر يو لفظ ئې د مينې اهتمام دے
هر بيان ئې د خپل خوږ زړګي تصوير دے
هر تحرير ئې د وطن د حال تفسير دے
د شبنم غمي راټول د ګل په سر کړي
د سپرلي په اندر شپر ګښې خان زرګر کړي
د دې وخت نبض شناس دے داروګر دے
د شليدلو ګريوانونو رفوګر دے
خپل کوګل د ګل په بام باندې خيمه کړي
د اجمل سترے ژوندون پکښې دمه کړي
د خپل قام د يو وحدت د تړون ساز دے
هم ايمل دے هم محمود دے هم اَياز دے
د خپل قام د ننګ غېرت سندرې وائي
د خپل قام د اخوت سندرې وائي
فجي ګله ! باچا خان پرې دومره ګران دے
ته به وائے چې پخپله باچا خان دے

فجي ګل (مرغز)

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

زۀ د هغه ادارو، شخصیتونو او تخلیق کارو د زړۀ له تله مننه کوُم۔ د چا د حوصله افزائي پۀ سوب چې زما فکروفن د ارتقاء پۀ لور روان شوے دے۔ زۀ د پیښور ټیلی وژن پښتو څانګې د پخوانی سکرپټ ایډیټر (اوسنے جي ایم) او د ریډیو د هغه پروډیوسرانو ذکر دلته پۀ دې موقع مناسب ګڼم چا چې زما پیژندګلو پۀ قامی او عالمی کچ کړې ده۔ زۀ د خیبر نیوز هم مشکور یم چې زۀ ئې رابللے یم۔ او زما خیالات او احساسات ئې صرف پښتونخوا کښې نه بلکې د نړۍ ګڼ شمیر ملکونو ته رسولی دی۔ زۀ هغه سندرغاړی هم یادوُم چا چې زما کلام ته د خپل ساز او آواز خواږۀ وربخښلی دی۔ زۀ د هغه شاعرانو ادیبانو اُستاذانو نوم هم ډیر پۀ احترام اَخلم د چا نه چې ما د شعر وادب پۀ حواله ډیر څۀ زده کړی دی۔ د هغه تخلیق کارانو د کتابونو خبره ضروری ګڼم۔ چې زما فن او تخیل ترې اَثر اخستے دے۔ هغه واړه ټولنې هم زۀ خپل لار ښود او نظر ګڼم چا چې زۀ خپلو مشاعرو او ادبی اجلاسونو کښې وخت پۀ وخت شریک وال کړے یم۔ زۀ د صحافت۔ تنظیم۔ اصلاح۔ ورځ پاڼه وحدت ۔ ورځ پاڼه خبرونه ۔ ورځ پاڼه خبریں۔ حُجره۔ ښکلا۔ پلوشه۔ ګُلبڼ۔ هیواد او صوابی ټائمز۔ پاخون۔ وږمې او داسې نورې ګڼې او اخبارونه زما د شعر و ادب پۀ وده کښې لوئے لاس لری۔ نو زۀ ورته پۀ درنه سترګه ګورم او د هغۀ ټولو لیکوالو چا چې ماله د کتاب چاپ کولو پۀ وخت ښې سودمنې مشورې

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نیټ

راکړې دی او هغه ق کار هم د عزت و احترام او د ستاینې وړ دی چا چې زما پهٔ دې کتاب خپل خیالات او جذبات پهٔ ډیره مینه څرګند کړی دی۔

د کتاب د کاتب (کمپوزر) هم د زړهٔ د کُومی نه مننه کوم چې زما د دې کتاب کتابت ئې ډیر پهٔ مینه ، خلوص او بې لوټه سر ته اورسولو۔ او د هغه پریس والا هم پهٔ دې لړی کښې شمیرم چا چې زما مسودې له د کتاب شکل ورکړو۔

زهٔ د هغه ملګرو او مینه والو هم شکر ګذار یم چا چې ماله د کتاب د نوم کیښودو د پاره ښې مشورې راکړی دی۔

زهٔ خپل خدائے بخښلی پلار او خپلې خوږې مور ته لاس پهٔ دعا یم۔ چې ماته ئې پښتو ښودلې ده۔

او پهٔ آخر کښې زهٔ د لوئے الله مشکور یم د چا کُلهم کائنات چې لکه د شعر پهٔ تول او وزن پُوره دے۔ او ماله ئې د شعر د فن ډالی راکړې ده۔

حصوصی مننه ۔ رڼا ادبی ټولنه ترکی ، رشکی ۔ صوابی

پهٔ مخه مو ښه

طلا محمد شباب

صدر صوابی ادبی ټولنه صوابی

مدیر اعلیٰ: وږمې

۲۰-۰۷-۰۹ ډاګی

داسې روښانه مخ ، چې نمر ترې هُم ځلا اَخلي
دومره ډېر ښکُلے ، چې سپوږمې ترې هُم ښکُلا اخلي

يوه ناوياته نمُونه ده ، د جلال او جمال
لېواله مينه ده ، وفا ترې هُم وفا اَخلي

د ژوند ځنګل کښې ، هر يو ورک انسان ته لاره ښائي
داسې رهبر دے ، چې رهبر ترې هُم دُعا اَخلي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ګوره غلام ابنِ غلام له ، زړهٔ کښې ځائے ورکوي
هغه مېئن دے ، چې د زر او زور بَلا اخلي

داسې زړهٔ سواندې ، چې هغه ته هم بخښنه کوي
شال د اُلفت ورکوي ، درد ترې پهٔ خندا اَخلي

چې ئې د ژوند کتاب کښې تکے ، د نفسې نيشته دے
چې خود پرسته نه دے ، تا اَخلي هُم ما اخلي

د سرېتوب په معنٰی پوئې ، خور دے په هره کوشه
زمونږ دلدارَ پردې غمونه ، هُم وېرېا اَخلی

دا د چا مخ دے ، مُعجزه ده ، برکت دے د چا
دا د کُلهم د کائینات وجُود کۀ ساه اَخلی

دا سې یو گُل ، چې د وږمو او خوشبویو موسم دے
هغه سپرلے ، چې تږېنه رنګ بادِ صبا اَخلی

د هر یو رنځ مسیحائی کړی ، د هر یو زخم درمان
هغه طبیب ، چې مسیحا ترې هم دوا اَخلی

د رحمتونو د بنائست سینګاره ډک له نُوره
یقین شبابؔ له ، د اِیمان ځنې طِلا اَخلی

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# نعت

چې دا ګُل جهان پرې ګُل دے ، نوبهار دے
دا ښائیست د مدینې ، د لوې سرکار دے

ګُل به ولې مړاوې کیږي او ریژیږي
چې د نُور څښتن پخپله ئې ، مالیار دے

په سینو کښې ، د رحمت د ځل رڼا ده
منّور پرې د ذِهنُونو ، ټول دیار دے

د هر خیال د ښکلاګانو ، نمر سپوږمې ده
په فکرونو کښې د ستورو نه بهسار دے

برکت د چا د مینې دے ، پوهیږم
چې هواد مې پرې د خیال ګُلِ ګُلزار دے

بې له نومه ئې ، دا ټول کائنات هیڅ دے
پرې روان د هرې چارې ، کاروبار دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ځنګ به پاتې شي ، تيرې د جهل هلته
چې رهبر ئې ، د شعور د علم ښار دے

د غمژنو زړونو ، ايکې يو اسره ده
د بې وزله بندګانو ، خوږ دلدار دے

دا اعجاز مو د حبيبؐ ، د روښان ذهن
چې نظر مو پرې روښان ، ژوند مو سينګار دے

مونږه څه يُو چې نبيؐ به په خوله ستايُو
محمدؐ دے ، چې د ټول عالم غمخوار دے

خُدايه شُکر ، چې د لوئے نبيؐ ، اُمت يُو
خُدايه شُکر ، چې ستا دوست زمونږ سردار دے

د شبابؔ علم د شعر ، دومره نۀ دے
د جانان په منينانو کښې ، بس شمار دے

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نيټ

چې پرواه ئې نۀ د خپلو ، نۀ د خان کړه
شمع بَله پۀ جهان ئې ، د ایمان کړه

نامه ورکه ئې د ژوند نه ، د خزان کړه
حُسینؓ گُل وینه خوَره ، پۀ بیابان کړه

پۀ جذبه ولاړ د حق ، لکه د نمر وۀ
حُسینؓ لوبه ، نۀ د سُود او نۀ د زیان کړه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

کۀ یزید پرې ، د ستم لښکرې وکړې
کله ویره ترې ، حُسینؓ مردِ میدان کړه

د فرات د غاړې تنده ، تنده نۀ وه
تنده ماته ئې کوثر د هر اَرمان کړه

حُسینیؓ جذبه ، د حق د لار نعره ده
یزیدی ظلم تیارۀ ، پۀ ټول جهان کړه

ما او تا ته د حُسینؓ تُوره ډال ښکاری
خو هغه د صداقت شمع ، روښان کړه

زمانې ته ئې تاریخ ، د غیرت پریښود
خپله وینه ئې د حق په ، سَر قربان کړه

اوس به تګ کوی ، بې ویرې خپل مرام ته
هغهٔ لار ، ډیره آسانه د کاروان کړه

داسې نهٔ ده ، چې بس خپل نُوم ئې اوچت کړو
هغه ښهٔ ستره نامه ، د هر انسان کړه

آمریت ته ئې سَر ټیټ نهٔ کړو ، ننګیال وهٔ
سَر لوړی ته ئې ، دُنیا ټوله حیران کړه

چې تازه لکه ګُلاب ، شعر د شباب دے
رنګ په وینه ئې ، جذبه شهید جانان کړه

---

O

موسم خراب دے ، مینه څنګه وکړم ؟
ژوند یو غذاب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

بورا تالا ، ګُلشن ته پیښنه نۀ کړی
مړاوے ګُلاب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

لا اژدها د سرمایې ، پړشیږی
زور د حساب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

مینه به وکړو ، چې سنګر وګټو
جوړ انقلاب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

هلته پۀ ښو کښې د بنیا لوغړیږی
مونږ له قصاب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

د جنګ خپسه ، پۀ وطن پرَته ده
کور کۀ محراب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

مُونږ د غُربت ګناهنګاران او مینه
مینه ثواب دے ، مینه څنګه وکړم ؟

٥

کۀ ستا د مخ رڼا تيرو سره ، جنګونه کوی
نو زما اوښکې هم لمبو سره ، جنګونه کوی

پۀ خپله سيمه ، ګرونده ، د سرو ګلونو کوم
ماليار خصلت مې ، د ازغو سره ، جنګونه کوی

دلته مُطربه لا فضا ، د اَمن جوړه نۀ ده
شور د بارودو ، لا نغمو سره ، جنګونه کوی

نفرت د مرګ ، مينه د ژوند د روح معنی ګڼمه
وخت نامُراد د لېونو سره ، جنګونه کوی

د زړۀ رباب مې د شباب د وخت نغمې شوروی
رقيب کۀ هر څو مره دُرخو سره ، جنګونه کوی

O

د خیال دُرخو رانه ، خفه شانې ده
مړاوې د ګُل خوا کښې ، وړ.مه شانې ده

راځه چې ځنګ تر ځنګه کښېنو سره
شپه د هجران ډېره درَنه شانې ده

دا جَل وَهلے لاله زار به ، ګُل شی
پۀ کړه مار وریځ ، خورَه شانې ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د سپرلی ناوې ، هسې نۀ رادرومی
غواړی بلنه ، پُښتنه شانې ده

جانانه راشه چې دا کلے ویښ کړو
دا پۀ ژوندونی ، اَدیره شانې ده

O

دلته د وخت سوکړه ، لا هٔغسې شته
د اور موسم لمبه ، لا هٔغسې شته

څهٔ به سندرې د مستۍ اووايُو
د ژوند ترخه قيصه ، لا هٔغسې شته

تا کهٔ پهٔ هيره چرته ، ياد نهٔ کړمه
پهٔ خُلهٔ مې ستا نامه ، لا هٔغسې شته

څوک ئې څنګ واؤرى ، بارودى ماحول کښې
ګنى د درد نغمه ، لا هٔغسې شته

منم چې وى به ، بهرام خېل يارانو
خو د خوشحال جذبه ، لا هٔغسې شته

داسې ښکاريږى ، پهٔ دې لار تلې ده
خوَږه خوَږه وَږمه ، لا هٔغسې شته

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

خوند به رنا ، د رون سحر یادوؤم
چې د حالاتو شپه ، لا هُغسې شته

شبابَ به خاورې ، وَده وکړی یاره
ستا د جفا نشه ، لا هُغسې شته

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

هله ځوانی مې ستا سینګار کړه یاره
ما چې دا خپله خواروزار کړه یاره
چې د مئینو پۀ خوَږو پوهه شې
خُدائے دې پخپله ، د چا یار کړه یاره

O

چې مې کشتۍ د ارمانونو ، ډوبېده مالیده
چې پۀ رقیب ، لکه د ګُل راغوړېده مالیده

ځان ئې جوړ کړے دے نن ، ماته سترګې رُوژې وَهي
پرون چې هلته ، د بل ځنګ کښې ګډېده مالیده

شمکور دستُور د مېکدې ، به بَدلوو ملګرو !
د سَر د پاسه چې کاسه مو تېرېده مالیده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

اوس هډو ښکاری نه ، حجاب کښې د وریځو سپوږمۍ
کله نا کله چې به شپه کښې ځلېده مالیده

پۀ جنتي خاوَره مو ژوند ، څۀ جنتي خو نۀ دے؟
د ژوند لیلا چې جهنم کښې ، سوَځېده مالیده

ماته قیصي د ثوابُونو ، ګناهُونو مۀ کړه
ستا مُصله هم ، چې اَرزانه خرڅېده مالیده

زۀ بُلبل یم نغمه ګر یم ، چغېدل غواړم جانانه
ستا د حُسن ګُلستان کښې ، اَلوتل غواړم جانانه

دې جهان کښې د غمازو ، خپل احساس یمه تنګ کړے
یاره ستا د خیال دُنیا کښې ، وسېدل غواړم جانانه

توره شپه د زلفو تَم کړه ، شمع بَله د ښائیست کړه
زۀ پتنګ یم سپېلنے یم ، سوزېدل غواړم جانانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

اے جلاده زړۀ پرې مۀ سوه ، دار دې ښۀ ورته سینګار کړه
پۀ نسب د پُښتنو یم ، ځنګېدل غواړم جانانه

پشکال د هجر راغے ، د شباب لهمۀ راډک شُو
لکه پرَخه پۀ ګُلونو ، وَرېدل غواړم جانانه

دا خاوُره مو د مشک او د عنبر ، جوړه وَړمه ده
بخمل پرې غوړیدلے ، د ګلونو د څادر دے
تُورزن ئې هر بشر دے

چې خوب او خیال رنګین دے
هر تن ئې لونګین دے
وطن لکه سنګین دے
پهٔ مونږ خومره نیازبین دے
یو زیرې څلیدلے هم د کلي پهٔ ګُودر دے
تُورزن ئې هر بشر دے

موسم پکښې د مینې
اُلفت پکښې د وینې
رشتې ئې دی شیرینې
قیصې ئې ګل ورینې
د عِشق داستانونه ئې ، د مینې لوئے دفتر دے
تُورزن ئې هر بشر دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بُلبل پکښې خوشحاله
بورا پکښې سوکاله
دا خاۉره ده ننګیاله
هر پېغله ئې ملاله
ولاړ ئې ملاتړلې هر ځلمے چې په سنګر دے
تورزن ئې هر بشر دے

شبابه ا بختور يې
د ګُل وطن دلبر يې
چې سیال لکه خېبر يې
ښکاره لکه د نمر يې
ګُلهم نړۍ کښې ، دا وطن په ټولو باندې بَر دے
تُورزن ئې هر بشر دے

---

PUKHTO.NET

## قطعه

چې زما د خوب تعبیر دے
ګُله دغه ستا تصویر دے
زۀ پردی رنګونه څۀ کړم
ماته خپل وطن کشمیر دے

○

تا چې زما په ګل خوبونو ، خاوړې واړوّلې
په ډېر غرور دې ، په لوظونو خاوړې واړوّلې

ما د وصال اوږدې روژې اونیوې ، ستا په خاطر
تا د مئین په اَخترونو ، خاورې واړوّلې

رقیبه ! وبه سوزې ، بیا اور ته جولۍ مهٔ وَهه
ما خو د شَر په انکارونو ، خاورې واړوّلې

PUKHTO.NET

ستا نه خو ستا یادونه ښهٔ دی ، دومره خیال مې ساتی
څنګ ئې د هِجر په دردونو ، خاورې واړوّلې

دا ده د شپې اَژدها ، راغله رڼاګانې نغاړی
ګوره بدرنګې په رنګونو ، خاورې واړوّلې

زما ثواب درته ګُناه ښکاری ، منم واعظه!
ما د دُنیا په ثوابونو ، خاوړې واړوّلې

کم عقله ، څنګه به په اِیرو کښې رانه لال پټوې
تا که پُښتنو ، په تاریخونو خاوَرې وارَوَلې

ما که هر څو درته شبابؔ ، خاوَرې ایرې کړو یاره
څو تا زما په اُمیدونو ، خاوَرې وارَوَلې

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

چې نغمه ګر شوم ، ټنګ ټکور شومه زهٔ
د پُښتونخوا د سترګو ، تور شومه زهٔ
د زړهٔ په وینو مې ، لیکل شعرونه
څکه په لر او بر راخور شومه زهٔ

o

ګرېوان مې شيرې ، لمن مې تار ده
چم د رقيب ډې ، کوڅه د يار ده

پهٔ ګلدرو مو ، اوروونه بل دي
حسن سنګسار ډې ، مينه پهٔ دار ده

د صبر جام مې ، تر څوکو راغے
لرې شه هوشه ، ډېره تلوار ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ملګرو پاڅئ ډيوې کړې بلې
دژوند تيرو له ، رڼا پکار ده

شباب دمه شو د زلفو بن کښې
مرام ته درومي ، پهٔ سر ئې لار ده

O

چې هجران شي په کلونو ، د وصال مزه شي ډېره
چې يادونه پريشان شي ، د جمال مزه شي ډېره

چې ساقي لږ مهربان شي ، د اُلفت جامُونه ويشي
پرې خيالونه په ګډا شي ، د سُرتال مزه شي ډېره

چې وريځ د زلفو نهٔ وي ، په ګل رُخ پرخه وريږي
د ژوند دَشته کښې اتالهٔ ، د شمال مزه شي ډېره

د وطن په جبين سوال شم ، چې تهٔ اووايې حالونه
په پَستو شُونډو ګُلابه ، ستا د سوال مزه شي ډېره

منم ښکُلے دے شبابه ، خو د يار نه ښکُلے نهٔ دے
چې د يار غاړه کښې هار شي ، نو د لال مزه شي ډېره

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

پۀ ما مئين زما د ښار ، يو قلمکار ملګرے
هر وخت ګيلې کوی ، چې ماته ښۀ چارے نۀ وائے
دغه ملګرے مې وکيل دے ، وکالت هم کوی
د فوجدارۍ مقدمو ښۀ ، مړنے وکيل دے
پۀ مورنۍ ژبه مئين دے ، د جنون تر حده
پۀ پښتون زړۀ کښې ئې سره وينه غزونې کوی
زمونږ د دوارو زړونه يو شانې سينه کښې خوزی
پۀ نظرياتو او خيالاتو کښې يو والے شته دے
چرته چې زړۀ ځی هلته ښپې هم ځی رښتيا خبره
ګاډی کښې کيناستم ، د ښار مخه مې ونيوله
چې څو پۀ ځان پوئېدم د ښاره اَډه راغلې وه بيا
يو ګُلالۍ ماشوم مې ماته هر کلے وئيلو
زر زر ئې ماته څو دانې د سپهلنو لُوګے کړې
ما چې د دۀ ښائيسته ، جُوټې او کړو وړو ته کتل
ما وې بچے نستا نظر ماتې ته مې ځان لُوګے شه
د خپل نظام دې خونړی نظام ته قار راغے
ما وې هوټل کښې به د چايې يوه پيالۍ وڅښمه

ګورې کۀ پام مې لږ بدل شی ، سَر څوړے مې ښۀ شی
دغلته هم هغه قیصه وه ماشوم چاپې راوړه
ماته د دۀ معصوم وجود او تراړو شونډو وئیل
چې دۀ پخپله هلو نن سحر کښې څښکلې نۀ ده
ما وئیل ستا نه د ساقی واړه جامونه ځار شه
احساس مې اور واخست ، نظر مې شو ، سم کیږې پیږې
د خیال پۀ بام راته ، نویاته څوئے ځدران ودریدو
ما پۀ قلم وَرله یو تت لفظی ، تصویر جوړ کړو
دغه مې وس وۀ قلمکار ووَم ، نور مې څۀ کړې وې
پۀ دوئی خو حق لا د خُدائے هم نیشته ، د قام وګړو
دا خو د دې بچو ، د لوبو شرارت وخت دے
دوئی له سماج آخر ، د کوم جُرم سَزا ورکوی ؟
زۀ خو وہم دوئی سره قلم وې او بَسته پۀ غاړه
چې ترې سباله ښۀ انسان ، نه چې ناسُور جوړ شی
زمونږه دا جنت نُما وطن ، کۀ ډېر شتۀ من دے
بیا هم د دې وطن بچی ، دوزخی ژوند تېره وی
پۀ ټُوک ډوډۍ پسې بې کوره لے پۀ لے ګرځی
دا د چترال نه ، تر بولانه مردم خمزه سیمه
دا د آمو نه تر جهِلمه جادوګره خاوره
دا د کُلهم جهان سرداره ، زرزری پُښتونخوا

غلي مهوې څۀ چې قسم دے ، سرۀ او سپین ټوکوی
د اَباسین اَبِ حیات ته مې زمزم لوګے شهٔ
دا د کے تو ، مالم جبې ایلم واوړینې څوکې
دغه ښنېتر ښنېتر څواني ، دغه ګُل رنګه تُرکې
د سوېزرلېنډ څلا ، زما د ښکلې سوات پهٔ وړاندې
لکه د نمر مخې ته ، څوک بَله ډیوه ونیسی
هغه پهرس چې ورته ، ښار د رڼاګانو وائی
زمونږ د خپل باګرام پهٔ وړاندې ئې ، تصویر تت دے
زمونږ بابا چې به د خپل سنګر دا غرونه یاد کړل
د ډیلی تخت به ترېنه هېر شو ، پُښتونخوا ته به لاړ
دلته ښې مئې شته ، څواني شته ، پُښتنو ملګرو !
نو بیا زمونږ بچی نهر او در پهٔ در ولې دی؟
خپلې خبرې له واپس راځم ، خوږو ملګرو !
زهٔ چې تر څو تر خپل اشنا تر کچرو رَسیدم
نو ما بلا ترخې لمحې ، د تریخ ژوندون ولیدې
ډیر زیات خفه شومه د ښاره مې سم زړهٔ تور شو
ما وئیل بیا به پیښور ته ، چرې مخ نهٔ کړمه
خو یوه داسې واقعه چې زهٔ ئې وبوږنولم
چې مې راپاده شی نو غُوږے مې لَشې لَشې شی
زهٔ خو شاعر یمه ګوګل کښې حساس زړهٔ لرمه

داسې دردونه مې ، د زړۀ او مزغو چرته وځي
يَوه ماشومه د سُور هار په سخته سخا ګرمۍ کښې
عمر ئې دغه زيات نه زيات ، څۀ وۀ اتۀ کاله وۀ
په کچرو کښې سر تور سر ، پښې ابله ښيې ګرځيده
د پلاستک بوجۍ په لاس اوتر اوتر يې کتل
په سُور او سپين مخ ئې خُوَلې ، سمې په شر بهيدې
لکه چې پرخه په لاله ، څو رڼې اوښکې توې کړې
دا په زړو او پاتې پلې ، په ريښې جامو کښې
دلته دُنيا کښې ښکلې حُوره ، د جنت ښکاريده
لکه يو لال چې بې بها ، خاورو ايرو کښې پروت وي
دا جينۍ ما خواله ، زما په اشاره راغلله
ما وې بچې وايه ، نامه دې څۀ ده لُور د چا يې ؟
هغې زر خپلې ګُلابي شُونډې ، راوسپړلې
وې ئې ملاله مې نامه ده ، افغانۍ يمه زۀ
پلار مې جهاد کښې شهيد شوے دے ، کلونه اوشو
ما وئيل هن يَوه روپۍ واخله ګرمي ده ، بس ځه
وې نه ماما ، زۀ خو کباړ ټولوم ، خبر نۀ غواړمه
زړۀ کښې په دې خبره خپله ډير پښيمانه شومه
زما له خوا نه ملالۍ لاړه ، روانه شوله
د احمدشاه بابا نمسۍ ، لاړه کباړ ئې ټولۀ

زهٔ د ملالۍ خود داری ته حق حیران پاتې شوم
د ملالۍ پخې خبرې مې ، له زړهٔ نهٔ وتې
زهٔ خپل شاعر آشنا له لاړمه ، حاضر وهٔ هلته
مونږ پهٔ قامی او طبقاتی مسئلو بحث کولو
چې ناګهانه یوه چغه ، نسوانی راغلله
د عدالت د کوټې مخې ته ، یو شور جوړ شو
مونږه هم لاړو تماشې له ، چې دا څهٔ قیصه ده
ما چې ځنګ وکتل ، ملاله پهٔ غرمو پرَته وه
هغه بوجۍ ئې د کباړ پهٔ وریت ځیګر ایښې وه
ګرمۍ وهلې وه ، بې هوشه وه ، سُود بُود ئې نهٔ وهٔ
زما د لاس او پښو نه دم اووت ، چې دا څهٔ اوشو
چې دې خو اوس ماسره وړاندې څو خبرې وکړې
هغه شاعر آشنا مې زر تر زر ډاکټر راوستو
چې سټیسکوپ ئې ، د ملالې پهٔ زړهٔ کیښودلو
ډېر پهٔ افسوس سره ئې ووې ، ساعت اوشو مړه ده
ولاړو خلقو د هغې حق کښې ، دُعا وکړله
خدائیګو زما پهٔ خپلو سترګو هم ، باور نهٔ راتلو
ما وئیل زهٔ یو بوړنونکے ، غوندې ، خوب وینمه
د ملالۍ لاش ته اریان دریان ولاړ وُمه زهٔ
پهٔ دواړه مخه مې څو ځله بې اختیاره ښکُل کړه

ما وئیل ما سره ملالې ، څو خبرې وکړه
اے د جنت مرغۍ راویښه شه ، کبار ټول کړه
لکه د ګُل ئې پۀ خاموشه ژبه ، ماته وئیل
زۀ د کُلهم انسانیت نه ، مروره یمه
ما ته خپل ځان د ملالۍ د سر قاتل ښکاره شۀ
زۀ د هغې لاش ته ، ملال او ملامت ولاړ ووم
هغه دې ښارې ناپُرسان کښې ، هیڅا نۀ پیژندہ
راغے پولیس مُردہ خانې ته ، ئې ملاله یوړه
هغه ئې خاورو ته سپارله ، شناخت ئې نۀ وۀ
سترې ملالې اِیله ساه واخیست ، دَمه غوندې شوه
پُښتنې خاورې لکه مور ، ځان ته راجوخته کړله
ما د شعور د کړه مار ، د هغه بره سره
د احتجاج چغه نرۍ ته ، ښۀ پۀ جار وهسته
اے د وطن د وخت قاضی ستا نه پوښتنه کوُم
ستا عدالت د ملالۍ باره کښې ګُونګ ولې دے؟
د دې نظام د سرې خور اسلام آباد واکمنو
د ملالۍ د یو تنکی اَرمان قاتل څوک دے؟
اے د ملګرو مِلتونو د نړۍ واکمنو ۰۰ !
ستاسو منشور کښې د ملالې ذکر شته دے کنه؟
اے د حقوقِ انسانی علمبردار ښاغلو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د ملالۍ ځلې له راشي ، څو ډیوې بلې کړي
اے د هامان د مسلکونو ، پهروکارو واوړئ
د ملالۍ د دې سپېرې ورځې ، مُجرم څوک دے؟
اے د عظیمې پُښتونخوا د لر او بر وګړو
ستاسو پُښتو څهٔ شوه ، غېرت څهٔ شو ، ناموس څهٔ شو
اے د ورډمو او د ګلونو پښوره ښاره
تا پهٔ تخفه کښې ملالۍ له کاریزې ورکړلې؟

اے د څلور کُنجه دُنیا د عرش او فرش مالکه
چې تهٔ قهار یې نو قاتل نظام ته زور وښایه!

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

---

## قطعه

چې د خپل اولس او خاوړې دُشمنان دي
هغه خلق د سرو سپینو خاوندان دي
خپلې خاوړې ته چې مور وائی ملګرو!
هغه خلق پهٔ خپل ځان پورې آریان دي

O

ستا د شونډو نه ګلاب ، رنګونه اخلي
د رُخساره دې ، ماهتاب رنګونه اخلي

ستا د مخ کعبې ته ، غلي غلي ګوري
زاهدان ترې د ثواب ، رنګونه اخلي

د سحر له رنګینو نه ، ناخبره
تورو شپو نه ، د سراب رنګونه اخلي

اے ناصحه! زهٔ کچه رنګونه ناخلم
زړهٔ د ژوند خانه خراب رنګونه اخلي

د پښتون ، پښتو لاهُو پهٔ سمندر ده
اباسین اوس د چناب رنګونه اخلي

شینکے خال دې ګورې وران نهٔ کړې ، حسینې
روژې ستا ترې ، د محراب رنګونه اخلي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

کائنات کښې ستا د حُسن ، جلوې ښکاری
تلوسې ترې پهٔ حساب ، رنګُونه اَخلی

چې خوَله اَو وينه يَو ځائے ، د مزدور شی
بيا زردار ترې ، د شراب رنګُونه اَخلی

د جانان ديدن وېړيا کړې ، لويه خُدايه
چې غزل له ترې شباب ، رنګُونه اَخلی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

خدائيګو ، چې ما ګوَرې هم کړې نهٔ يې
ستا د لاس نخښې ، ښې سمبال ساتمه
د ذهن فريم کښې دې ، تصوير صنمه
لکه د خُوږ لاس ، ډېر پهٔ فال ساتمه

O

د ګُلونو خوا کښې اوسم ، کاریزو سره مې ژوند دے
د نمر مخې یار اَرمانه ، تورو شپو سره مې ژوند دے

تهٔ مې خپل نهٔ شولې یاره ، خپل مې هم رانه پرَدی شُو
ستا د څرېکو او درِدونو ، دې خوږو سره مې ژوند دے

دا پُښتو زما دُرخو ده ، اے د وخت د نغمې ترَنګه
چې رباب سره مې ژوند دے ، د دُرخو سره مې ژوند دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

روغه خلقه ما نه واوړئ ، زهٔ د مینې لیونے یم
چې د مینې بیابان کښې ، سرو غرمو سره مې ژوند دے

ستا د حُسن بن دې یاره ، تل تر تله ګُل آباد وی
زهٔ بُلبل دې نغمه ګر یم ، د نغمو سره مې ژوند دے

ژوند مې ستا د غاړې هار کړو،خپل شباب مې تانه خار کړو
اے د درِد درمانه راشه ، د سلګو سره مې ژوند دے

# بس هم دغه مې قصُور دے

زۀ مُرید د خپل دلبر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے
گرځوان څیرے کور و کر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

پۀ مسلک د اَمن ژوند کړم ، پۀ ډگر د خېر ولاړ یم
چې د شَر سره پۀ شَر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

پُښتو ژبه مې پُښتو ده ، خپل قلم زما صدا ده
یَو آواز د لَر او بَر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

زۀ نقیب د سَحَرونو ، زۀ دُشمن د تورو شپو یم
پۀ سینه د شپو خنجر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

د ژوندون پۀ سُوراړا کښې ، ستړو ستړو لاروؤ ته
جنگې گوره د شجر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

د شعور کلی کښې اوسم ، د احساس د ښار وگړے
د ژوندون پۀ راز خبر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

هر جابر د وخت غندمه ، هر یزید سره په جنګ یم
زهٔ دُشمن د هر شمر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

زهٔ شهباز د دنګو غرونو ، زهٔ باتُور د لوړو غرونو
زهٔ د قام وطن نظر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

چې اَشرف یم پهٔ اشراف کښې ، غوره ژوند د اِنسان غواړم
پروت پهٔ سمه کهٔ پهٔ غر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

شبابؔ دومره اَوتر نهٔ یم ، لار وَهلے شم ژوندے یم
خپل مرام ته پهٔ سفر یم ، بس هم دغه مې قصُور دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

---

## قطعه

یاره سینه کښې ، زړهٔ لرې او کنه؟
بُت یې احساس هم څهٔ لرې او کنه؟
زهٔ د بهلتون دَشته کښې ، تږے ګرځم
چرته یو ګوټ وبهٔ لرې او کنه؟

o

د زړه غوټۍ چې پکښې ګُل نه شي ، سپرلی څه کوو
راته په ښه سترګه چې نه ګوري ، ساقي څه کوو

چې نه آزاد یم او نه ښاد اوسم ، جنت وطن کښې
چې زندګي مو جهنم دے ، دلبري څه کوو

چې تصور کښې مې ستا فکر ، د ښائستونو نه وي
مونږ داسې سپوره او بې رنګه ، فنکاري څه کوو

خود به سلګۍ سلګۍ ګُلشن کښې ، اَنګولا کوو مه
د غم په کور کښې به ، بې واکه خوشحالي څه کوو

چې بندګي مو تر څو پریښې ، د ژوندي بُت نه ده
کم عقله شېخه ! دا دوه رنګه بندګي څه کوو

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

○

چې د خیال ، فکر رڼا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده
کهٔ د ژوند د بڼ ښُکلا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده

منصوری جذبه کهٔ ګوری ، پهٔ وجدان کښې ګډه وَډه
دا چې دار ته پهٔ خندا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده

د لفظونو پهٔ یاری کښې ، سوداګر د قلم نهٔ یم
د ضمیر پهٔ دې رضا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده

پهٔ وَرشو د تصور کېنې ، نظارې ستا د ښائیست دی
د زړهٔ ناوې پُښتونخوا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده

کهٔ د وخت جابر مې ژبه ، د نفرت پهٔ تېغ زخمی کړه
دا چې ګُونګ نهٔ ده ګویا ده ، ستا د مینې مُعجزه ده

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

O

بَدو رَدو او ښېرو سره ، بَلَد یم
شپېخه وایه ! د فتوؤ سره ، بَلَد یم

ساقي راوړه چې مې سترې ژوند ، دمه شي
ستا د سترګو پېمانو سره ، بَلَد یم

د شعور فضا کښې سهل کړمه باتُور یم
د مودو نه الوتو سره ، بَلَد یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ستغې سپورې راته وایه ، په پښتو کښې
د زړهٔ سره ! د پښتو سره ، بَلَد یم

د خپل فکر د نظر په دلیل ګرځم
په زړهٔ توره ! تورو شپو سره ، بَلَد یم

زما ژوند په څېر د شمعې د شبآب دے
لوګېدو او ژړېدو سره ، بَلَد یم

o

اوږ وریږي ، هر موسم لکه د هاړ دے
ګلان سوزي ، اوس ګلزار د مینې ښار دے

مینه ژوبل ، حُسن هم مرګوني ښکاري
چلولے پرې رقیب ، د نفرت باړ دے

ساقي ورک دے ، میخانې ته ئې جرنده ده
څکه شونډو د رندانو ، کړے پاړ دے

څنګ به پیتے د هِجران زمونږ نه کوز کړي
رهنما د حسینانو ، کړے جاړ دے

اے ملګرو ! یو قدم او یو آواز شئ
پښنه نیولے ، نن تاریخ درته ولاړ دے

O

وخت نوے ، ساقي نوے ، شراب غواړي
ژوند نوے بيان ، نوے كتاب غواړي

اوس حالات بدل دي ، نظر بند آشنا
دا موسم نعره ، د انقلاب غواړي

روستو يوُ "اَنګي مَل" كېږي ، د ټولو نه
دغه سوال ملګرو ، يو جواب غواړي

خپل راوي ، چناب ئې ، په ښيا خرڅ كړل
مانه اوس زما هغه نيلاب غواړي .

ګل شي د اُميد غوټۍ ډَشتونو كېږي
رنګ پكېږي ، د اور جذبې شباب غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# د شاعر لیلا

یو نوموړی مصوّر له لاړم
ما وې تصویر مې ، د لیلا جوړ کهَ
هغه وئیل ، ما خو لیدلې نهٔ ده
ما وئیل تهٔ ئې شا پهٔ شا جوړ که

هغه وې ښه ده کړهٔ وړهٔ ئې وایه
ما وې لوګے ورته ، د چین ښاپیری
قد ئې فنکاره ! د چینار ونه ده
مخ ئې پهٔ شان ، د څوارلسمې سپوږمی

بانړهٔ ئې غشی دی ، لیندې ئې رُوزې
غزالي سترګې ، شرابي شرابي
خُلهٔ ئې وَړه ، پوزه ئې دنګه ښائیسته
شُونډې ئې سرې دی ، ګُلابي ګُلابي

خال ئې د مخ په کعبه ، تور ځلیږي
غاښونه سپین ، لکه بکرۍ ته ګوره
زنه ئې څځه ده ، خو منه د کابل
سرۀ اننګۍ ، لکه سُرخۍ ته ګوره

نازکه ملا ئې ، د چندڼ لښته ده
زُلفې وریځې ، تورې ګُورې ګُورې
هسکه غړۍ ، د صُراحۍ په شانې
لیچې ئې سپینې ، لکه سپینې تُورې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

هغه چې خپله ، فنکارۍ وکړله
ما چې تصویر ته ، یو نظر وکتل
په خپلو سترګو مې یقین نۀ راتلو
چې مې شاهکار ته ، لر و بر وکتل

ما مصوّر ته ، په غصه کښې ووې
دا دې شیشکه کۀ بَلا جوړه کړه
تا زما مینې پورې ، توقې وکړې
ما درته وې ، زما لېلا جوړه کړه

وې ئې خفه نۀ شې ، شاعره روره
تا چې شاعره ، کوم لفظونه ورکړل
بس د شاعر لپاره ، هُم دغسې وی
ما خپل تخليق له ، ستا رنګونه ورکړل

زما او ستا د کتو ، حِس جُدا دے
اے د لفظونو ، جادوګره ياره
ما سره برش ، تۀ د قلم خاوند يې
ګنې نو ده يوه خبره ياره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

خود به د اَزغو سره ، ګزران کوؤ
مينه چې تر څو ، د ګُل جانان کوؤ
ستا کتاب کښې هر تکے ، د ګنټې دے
مونږ د عشق سودا ګوَرې ، د زيان کوؤ

O

زما د فِکر په ورشو باندې ، راخور جانانه
زما د خیال په شبستان کښې ، یَه سمسور جانانه

مینه لرم ، ننګ او پُښتو ، پت او وفا لرمه
کۀ نیشته ماسره نو خېر دے ، زر او زور جانانه

څۀ به کلی ترہنه د مینې ، ښیرازی وموسی
دا کاریزې د رقابت غواړی لو ، لور جانانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

راؤړه خواږۀ د نظرونو او خُمار د څوانی
نن مې د زړۀ پیښور بیا دے ، اور او ګور جانانه

هسې ئې واخله نذرانه ، د خپل ښائیست په نامه
خو نوم پرې مۀ ږده ، په زړګی زما د پور جانانه

زړۀ او شبابؔ مې په تا وشیندل ، نور څه غواړې لا
ماسره څۀ دی ، لا د دې نه سیوا نور جانانه

○

ریباره زړهٔ مې چوی ، جانان رانهٔ غے
زما د زړهٔ د کلی خان ، رانهٔ غے

سوکړه د هجر ده ، نظر مې سوَزی
ځئ چې زاری له ځو ، باران رانهٔ غے

یار پهٔ پردۍ ژبه ، سندرې وائی
چرته اواز د یَه قربان رانهٔ غے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

چې پهٔ علاج زما ، د رنځ پوهیږی
هغه طبیب ، هغه درمان ، رانهٔ غے

هغه وږمې ، هغه سینګار د ژوندون
هغه د حُسن ، ګُلستان رانهٔ غے

پهٔ مات وزر به ، شاهین څنګ والوزی
د خېبر څوکې له ، آسمان رانهٔ غے

پهٔ میخانه کښېنې ، تندَغرے ناست یم
زما پهٔ وار هم ، ساقي جان رانهٔ غے

ما ورته خط کښېنې ، څو کیلې کړی دی
خو د صنم د خُلې فرمان رانهٔ غے

ما خپل ژوندون بائیلو ، شبابٓ مې بائیلو
د رقیب کور له ، څهٔ تاوان رانهٔ غے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

غزل غزل نِګاره ، سیال دې نیشته
زما د زړهٔ قراره ، سیال دې نیشته
چې فطرتی حُسن دې ، ونهٔ سوَزی
راځه راځه د ښاره ، سیال دې نیشته

# ځکه چې ته اوس د بل چا
# ناموس یې !!

ما بلا هڅه وکړه خُدائیګو ګُلې !
چې تا تر عمره عمره هیره کړمه
د آباسین د غاړې ټول لوظونه
وہم چې حسینې یو پهٔ یو مات کړمه
د زړهٔ د تاخ نه ستا تصویر راکوز کړم
او ستا خطونو ته تیلے اوو هم
ستا د لاس واړه رالیږلې نخښې
تاته پرده کښې در واپس کړم ګُلې
دا کلے پریږدم بل وطن ته لاړ شم
کیدې شي ختم شي تړون د مینې
پهٔ تصور کښې دې را نهٔ ولم کوشش وکړمه
چرته پهٔ خوب کښې دې رایاده نهٔ کړم
دا ستا نامه پهٔ هېره هم چرته کښې وانخلمه
رہبار له هم پخه چُوتې ورکړمه
چې خپل انجام ته دا قیصه اورسي
خپلو جذباتو ته قهرژې واچوُم

په خپلو لاسو خپل ارمان قتل کړم

خو مینه داسې یو جنون دے واوړه

د مینې داسې عجیبه آئین دے

د عقل ، فکر ، دائرې نه بار دے

مینه پروا د هیڅ قانون نۀ کوی

هیڅ یو مذهب ئې کمزوره ولے نۀ شی

ورنه پښتو هم توره ډال ایښې دی

دا د سماج یو پابندی نۀ منی

ما وئیل تا به سره ډولی کښې راوړم

خو غریبی راته پیغور شوه ګلې !

زما او ستا مینځ کښې ئې شپول اوواهۀ

ما ته اوس داسې یو تعویذ اوښایه

ما له اوس داسې یو ټوټکه وګوره

چې ستا نه زۀ په خوشحالی صبر شم

ځکه چې تۀ اوس د بل چا ناموس یې !!

-------------

O

چې د زړۀ په سلطنت مې ، یاره ستا حکمراني ده
د دردونو پریماني ده ، د غمونو آرزاني ده

د څیکر پۀ لاله زار مې ، د فراق سخته سوکړه ده
پشکال خُدایه رامات کړې ، د دیدن ډېره قاتي ده

د پښتو ناوې ته ګورئ ، وینې وینې په سلګو ده
زاغان ګرځي په ګلشن کښې ، لا بې واکه مالیاري ده

PUKHTO.NET

خود د ښکُلو چنو ځنګ کښې ، د حلوا تالي ته ناست یې
ماته وائے جام دې مات کړه ، عجیبه مسلماني ده

دغه لوړه به جانانه ، دې ژورې ته راکاږو
چې زرعون د میني ګل شي ، زمونږ خاوره جنتي ده

معجزه ستا د شباب ده ، کرامت زما د مینې
تۀ مې ساه یې ته مې ژوند یې، د زړۀ سره مجبوري ده

# خیال

غوټۍ موسیږي ، ګلونه خاندي
موسم بدل شو ، وختونه خاندي

باران د حُسن ، په دَشته اوري
د لاله سوي ، داغُونه خاندي

د هجر شپه چې ، نمر مخې تَم کړه
فکرونه ګل شوُ ، خوبونه خاندي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

زانې آسمان کښې ، قطار آمېل شوې
لولکۍ راغلې ، رنګونه خاندي

ساقي غني دے ، په مېکده نن
لېچې شنېږي ، جامونه خاندي

ژوند ښاپیري ده ، ښائست ترې څاڅي
مئين خُمار دے ، اوس زړونه خاندي

د غوړه لمن کښې ، سنګر ګلګون دے
وړمې خوريږي ، چې جوُنه خاندی

چمن د ګلو ، بهار بهار شو
واک پرې زمونږ شو ، قامونه خاندی

ځلمی د مينې ، سندرې وائی
شباب لمبه دے ، سازونه خاندی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

پۀ چمن کښې د حالاتو نن سوکړه ده
انتها ته رسیدلې ساړوبی ده
ډيره زر ده چې به زړۀ د ګرمی وچوی
پرته اوښکو د ګرمی کښې ښهرازی ده

○

جانه زما او ستا لانجه ختمه شوه
د مُحبت مقدمه ، ختمه شوه

یاره ما وبائیله ، تا وګټله
چې زړۀ مې بائیلو ، سرمایه ختمه شوه

حُسن دې هاغه حُسن پاتې نه شو
کاغذی ګله ! ستا وَږمه ختمه شوه

د انتظار لاره ، اوس نۀ څارمه
زما باور او ستا وعده ختمه شوه

PUKHTO.NET

بس دے د ښکُلو ښار ته ، نۀ ورځمه
ماسره جیب کښې کرایه ختمه شوه

د عشق قیصه ، انجام ته ورسېده
ځئ نندارچیانو ، ننداره ختمه شوه

ریباره نن مې ، ورته کرښه راښکه
د غنم رنګ سره پخه ختمه شوه

o

تا کهٔ بنیا صرف وئیلې ، د حساب پانه
ما ده لوستلې د رنګونو ، د ګلاب پانه

زهٔ خو مجرم یم ، ګنهګار یم ، خوار و زار ژاړمه
زما د ژوند کتاب کښې نیشته ، د ثواب پانه

لېږ د خلوت نه رابهر شه ، دُنیا څو ځانګه ده
لېږه تیکاؤ کړه ، د ممبر او د مِحراب پانه

PUKHTO.NET

اے د هوا چپې ، د زړهٔ په وینو خط لیکمه
د مسافر یار نه مې راوړه ، د جواب پانه

هلته چې هُم حُورې علمان دی او شراب زاهده !
دلته په ما ولې حرام ده ، د شراب پانه

دا د مُغلو او فِرنګ ورکړه ده ، خان پوهه کړه
نیشته اَزل کښې ، د چا خان او د نواب پانه

زمونږ د کلي زوړ اِمام او لا زړې تراوې
نوې دستور غواړي ، اوس سره د اِنقلاب پانه

تیَرى به وتښتي ، صادق سبا به نوُر ونولی
د مخه لرې کړه حَسینې ، د حجاب پانه

دلته لفظونو له ، زر زور بدلې کړې معنې
هوښیاره مهٔ چېړه ، د عقل د کتاب پانه

زهٔ د اُلفت په تسبو ، هر وختې ستا ذکر کوم
لېره خو واړوه جانانه ، د شباب پانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

غم به د دوران ژاړم ، باغي بهٔ یم
درد به د اِنسان ژاړم ، باغي بهٔ یم
کربښې پرې د وَخت جَلاد ، راښکلی دی
عکس د خپل اَرمان ژاړم ، باغي بهٔ یم

زما ننګیاله ، سترګه وره ، قلمکاره یاره
ستا ځلند فکر ، ساهُو فن ته هر کلے وایمه
تا د شعور لیتکی بَل کړی دی ، رڼا خورَوې
خو د تیارو هغه ځامن ورته شمکور ناست دی
په خوار و زار اولس مئینه ، اولس یاره آشنا
دا یارانه به درته خُدائیګو، ډېره ګرانه پرېوځی
دلته د ژوند خبرې مهٔ کوه ، عظیم جُرم دے
دلته کښې سُوتې په ډانګونو وَهه ، لوئے ثواب دے
دلته د علم ، پوهې ، عقل او دانش خبرې
لکه سندرا ته چې رباب یا سَرینده عبزوې
دلته خالق ته په ژړا هم ، قدغنونه لګی
خو چې بُلبل ته ، د سپرلو سندری ونهٔ وائے
چې د کتاب او عقل ، فکر نه دائرې تاوَهی
چې آنوری ذِهن ته هم ، غتې جرَندې اَچوی
اے د لفظونو جادوګره ، نغمه ګره د ژوند
سوَزه بس سوَزه ، د ققنس په شان په خپلو نغمو
منم چې ته د بورژوا مخښکې ، ګډېدلے نهٔ شې
منم چې ستا به د کریاب دریاب ، نظام بدی شی

منم چې نهٔ د مصنوعی تضاد ، ملګرې نهٔ یې
منم چې نهٔ وړو خُدایانو ته ، سجدې نهٔ کوې
منم چې تهٔ به ، د کوډلو انغری ګرموې
نهٔ وئې چې دلته یوه لویه وروولی جوړه وو
تهٔ وئې چې ژوند د سرېټوب شی پهٔ کُلهمه نړی
تهٔ وئې چې یو انسان د بل انسان غلام نهٔ شی
تهٔ وئې چې څوک هم،د غُربت دوزخ کښې ونهٔ سوزی
تهٔ د خټک بابا پهٔ لاره مَزلوُنه غواړې
تا به د راز سره ، د راز و نیاز جرګې کړې وی
تا به د ډارون نظریه ، د ارتقاء لوستې وی
تا د مارکسزم ، بنه پُوره مطالعه کړې ده
هره خبره کهٔ د پوهې پهٔ دلیل هُم کوې
خو ډم خانه کښې ، د طوطی څوک اَوریدلے نهٔ شی
منصور د زړهٔ خبره وکړله ، انجام ئې څهٔ شو
د ریچل کوری بغاوت ، ګردې نړی ولیدو
د واپستاروف د مرګ قیصې هُم بوډنونکې ښکاری
تا اریانه کښې د پښتون منصور انجام ولیدو
ګوتم له هم یوې نعرې د مرګ ، سزا ورکړه
هغه چې تل به ئې سندرې د وفا وئیلې
هغه چې تل ئې ترانې د پښتونخوا وئیلې

یاد کړه د هغه ملنګ جان سره سلوک څۀ اوشو
تۀ د اٰدم بچے ، د ژوند دوزخ کښې نۀ شې لیدے
تۀ ورله دا دُنیا جنت غواړې ، ښکُلا غواړې
زما جانانه ، دغه ګرانه ده ، واپس شه راځه
دا لاره تړوله د ازغو او کاریزو ډکه ده
ستا آواز دا سې دے ، د دنګو غرونو ویخ کښې اٰشنا
لکه چې خپل آواز ، بنده پسې واپس راشی
دلته د ښۀ سړی معیار څۀ دے خبر یې یاره
چې برګ چپوتکے ، دې پۀ سَر وی،لویه ږیره لرې
جُومات ته ډېر ډېر ځې ، چاپیره د مُلا نه چُورلې
مُلا بادر شهٔ ، شپه او ورځې پۀ اَودس کښې ګرځه
خبر کۀ بیا هر څۀ کوې سپین باز یې پروا ونۀ کړې
کۀ د مانځۀ پۀ بانه خورې ترې ، هیڅ غم ونۀ کړې
لاړ شه حرم ته طوافونه د کعبې نۀ وکړه
بیا ابراها شه ، د انسان د زړۀ کعبه نړَوه
دلته روژې نیسه ، خو ذکر د اَختر مۀ کوه
اوسه تیَرو کښې ، خو خبرې د سَحَر مۀ کوه
دلته پۀ خُلۀ ، تش د ایمان ، یقین خبرې کوه
ښۀ ریاکار شه د مذهب جامه کښې وانې کوه
کله نا کله ، د خدائے لاره کښې هم وَخت وَرکوه

د اِرتقاء لاره کښېږي خپل قام ته خندان اَچوه
ته خو نهٔ زور لرې ، نهٔ زر لرې ، کافره یاره
دا د فرقو فتوؤ وطن دے ، ډېر په پال کرځه
دلته بَس وخت اَړوه ، سَر ږقوه ، وخت تېروه
ښهٔ بې شعوره شَه ، ډَرکَل شه ، ښې مزې چاڼوه
روښان شعور ، خپلې مرې ته ، تیزندی اَچول دی
د بې شعورو دې سماج کښې ځان له کار مهٔ کوره
د دې حالاتو سره لېږه ، روغه جوړه وکړه
بیا هر څهٔ ډېر دی، پهٔ چرچو به دې ژوندون تیرېږی
دلته رښتیا وئیل ، د زهرو پیاله څښل دی یاره
دلته رښتیا وئیل ، د پیر مذهب کنځل دی یاره

PUKHTO.NET
پښتو ځاله ښت

## قطعه

چې خواری کوی ، نو خوار دے
چې تیاره خوری ، مالدار دے
اَپُوته غوندې دَستُور دے
مُلا وائی ، د خدائے کار دے

○

پهٔ تندو چې سینګاریږی تورې کربښې
د ځوانۍ نه راتاویږی تورې کربښې

مُلا اوګوری دلیل سپیرهٔ ژوندون ته
وائی عرش کښې زرغونیږی تورې کربښې

هیڅ اَثر نهٔ کړی دم ګړه پهٔ قلار شه
پهٔ دمونو لا اوړدیږی تورې کربښې

محلونو ته له ویرې ورتلے نهٔ شی
پهٔ کوډلو کښې اوسیږی تورې کربښې

حرکت کښې برکت دے مفلس یاره
تش پهٔ اوښکو نهٔ ورانیږی تورې کربښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

O

چې د یار د ښو گردونه پهٔ سر نولم
د سپرلی د گل رنگونه پهٔ سر نولم

چې طواف د یار د درد کوم زړګیه !
څه بیسیاره ثوابونه پهٔ سر نولم

د احساس نه محروم شوې یم معذور یم
څنګ انسان یم ، بارودونه پهٔ سر نولم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

تهٔ خو پوهه یې کهٔ نور پرې خبر نهٔ دی
لیونے شومه دشتونه پهٔ سر نولم

د شباب نصیب کښې چرته وړمې نیشته
لکه کانی دې غمونه پهٔ سر نولم

○

مُونږ روان په کومه لار یُو ، ساروان کوم پَلو روان دے
د ژوندون په بې ارزې کښې ، کاروان کوم پَلو روان دے

خبر لوځې آنګازې دی ، خپل ښائیست ئې رهباری کړی
د رقیب سره تر غاړه ، جانان کوم پَلو روان دے

د زړګی په هر پرهر کښې ، سوے دړد دے د وختونو
د دارو دُرملو څوک دی ، درمان کوم پَلو روان دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

لا خزان نه وُو راغلے ، د ګُلشن ښکُلا پیکه شوه
د اُمېد غوټې جَلیا شوې ، باغبان کوم پَلو روان دے

د سپوږمۍ ښائیست کهٔ ډیر دے ، خو څلا اَخلی له نمره
لا ولاړ د مینې نمر دے ، تابان کوم پَلو روان دے

ښهٔ پوهیږی چې قتلیږم ، په خنجر د عشق واغظه!
منصور خېل دې دار ته خاندی ، اَرمان کوم پَلو روان دے

سیم و زر جوړ کړی لهٔ خاؤرو، پهٔ هنر سم کیمیا کړ دے
خو دهقان کوم خوا روان دے ، او خان کوم پلو روان دے

چې کړی هغه سخ پهٔ وړاندې ، دو مره نور پهٔ رو ستو راشی
اوس پهٔ نوم د ترقی نن ، انسان کوم پلو روان دے

د نړۍ قامُونه گوره ، د زُهرا پهٔ لوُری لاړل
مور پښتو ترې نه وېزاره ، افغان کوم پلو روان دے

اَوتې بَوتې وائے چپ شهٔ ، اے شبابه لېونیه
دا تهٔ څومره ساده گُل یې ، دوران کوم پلو روان دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

---

## قطعه

نُوم ئې ، زما نوم سره تړلے دے
پوخ مې پهٔ تختۍ ، د زړهٔ لیکلے دے
څنګ ترې نه زاهده زهٔ لاس اووینځم
ستا د خیال د حُورو نه ښاغلے دے

○

چې ویجاړ زما ، د مینې ګلستان دے
د بارودو جزیره کښې مې ، ګزران دے

یو تصویر دے ، د ماضی اِلبم کښې ښکاری
یو دلدار ته په خندا ، ولاړ جانان دے

هغه کلے چې په یار ، ګلِ ګلزار وُه
هغه کلے اوس یو خوشے بیابان دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د زړۀ سیمه مې رات شوې ده ، وخت اوشو
مُسلّط پرې ستا د حُسن ، حُکمران دے

د ډالرو سخے ژوندے دے ، موسیٰؑ راشه
سامیرے د واشنګټن ، د نړی خان دے

علامت چې د جهان ، د استبداد دے
سپین هاتی دے یا د دې دور هامان دے

○

ما د اَرمان پۀ الاجی کښې چې رېشل غمونه
څۀ د دوران ، څۀ د جانان ، څۀ زما خپل غمونه

لا ډېرېدل ، پۀ مېکده د بې خودۍ کښې ، یاره
ما کۀ هر څو پۀ زور ، د ذهن نۀ شنډل غمونه

نۀ رقیب ګرم دے ، نۀ جانان ، قصور زما د نظر
د زړۀ پۀ دشته کښې پخپله ، ما کرل غمونه

شپه د فراق کۀ هر څو لویه وه ، فنکار ووَمه زۀ
پۀ ډیر هنر مې ، د اُلفت پۀ تار پېړل غمونه

ښۀ نصیب دار یمه ، چې خان شومه د غم د جاګیر
لکه باران مې پۀ دَوتر راورېدل غمونه

وائی خُلۀ وګنډه ، ګُونګے شه ، پۀ چغار قدغن دے
ما چې ګُلشن کښې ، پۀ سلګو سلګو ژړل غمونه

PUKHTO.NET
پښتو جالتړ نېټ

منم بې دمه وؤمه ، ستړے وؤم ، پښیمانه نهٔ وؤم
ما چې پهٔ ولو د غُربت ، د یار وړل غمونه

شبابٓ پرې وسوځېد ، لمبه شو ، د ققنس پهٔ شانې
گنی نو ما خو پهٔ خوږو نغمو، سېزل غمونه

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

مونږ د لفظونو جادوگر ، چې افسانې لیکو شعرونه لیکُو
د پُښتنو د پاره لیکو ، او دِې خپلې پُښتونخواله لیکُو
چې پُښتانهٔ پُښتو لیکلے او لوستلے نهٔ شی
حیران پهٔ دې یمه ملگرو ، چې دا چاله لیکُو؟

O

اے پتنګه تیَری تبنتی ، خو ژوندون له شمعې غواړی
دا رڼا د شمعې آه دے ، چې په سر ئې اور بلیږی

مینه نهٔ مری لا فانی ده حُسن زر مړ شی عاشقه
حسینان هسې ساده دی ، چې په خپل حسن نازیږی

څهٔ ښائیسته غوندې دلبر دے ، څوک ثانی ئې دلته نیشته
چې ګُلشن ته کله لاړ شی ، ټول ګلونه ترې شرمیږی

زهٔ به څنګ د محلونو ، قصیدې وایم زردار له
د هغې محله کانی ، تل پهٔ مونږه راوَریږی

سپے منم چې وفادار دے ، خو نامه ئې سپکه لګی
نور څهٔ عیب پهٔ دهٔ کښې نیشته،خو خپل قام سره جنګیږی

دا سیلاب د انقلاب دے ، زر د نوح کیشتی ته خیژئ
هر کنعان دولی کښې پروت دے،هر فرعون به اوس ډوبیږی

کهٔ د شونډو جام دې نوش کړو،نو زاهده حُور به هېر کړې
بس په یو ګوټ تېروُلو ، شبابؔ ټول بې خوده کیږی

# فخرِ افغانه بابا

اَرمان اَرمان ، پهٔ شیشم باغ کښې قلردانه بابا
ستا سر لوړی ته ، تاتره بده هُم حېرانه بابا

مونږه ستا روح ته ملامته یُو ، دلګیر چې نهٔ شې
مونږه بې ننګه یُو بې پته یُو دلګیر چې نهٔ شې
ستا پهٔ مزار مو ډیوه بَله نهٔ کړه ، خانه بابا
اَرمان اَرمان ، پهٔ شیشم باغ کښې قلردانه بابا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پهٔ جنتی خاوره نیمګړی ، نیمه خوا پاتې شو
نوې پیړی راپورې خاندی ، روستو بیا پاتې شو
د ژوند پهٔ دشته کښې ، زمونږه ګل اَرمانه بابا
اَرمان اَرمان ، پهٔ شیشم باغ کښې قلردانه بابا

بره لا هُغه غم اورلې ، نغمه خلاصه نهٔ ده
دلته لا هُغه بوډنؤنکې قیصه ، خلاصه نهٔ ده
راشه د زړونو مسیحا ، د وَخت دَرمانه بابا
اَرمان اَرمان ، پهٔ شیشم باغ کښې قلردانه بابا

د پښتونخوا په سينه کړښې ، د بېلتون لا شته دي
د غُلامۍ د ژوندګۍ ، هغه مضمون لا شته دي
د پښتونخوا د جبين خال ، مردِ مېدانه بابا
اَرمان اَرمان ، په شيشم باغ کښې قدردانه بابا

د پښتو ناوې سره سترګه غواړي ، سياله نۀ ده
رانه اُلفت غواړي، سينګار غواړي ،خوشحاله نۀ ده
کلتور مو هم خاوړې ايرې شو ، ملنګ جانه بابا
اَرمان اَرمان ، په شيشم باغ کښې قدردانه بابا

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

په خپل چمن کښې لا مونږ،خپل اختيار کولے نۀ شُو
مينه کۀ هم کوؤ ، تپه د يار کولے نۀ شُو
ګرځو بې نُومه ، بې دِياره ، بې نشانه بابا
اَرمان اَرمان ، په شيشم باغ کښې قدردانه بابا

راشه چې بيا د وَخت فِرنګ ته ، هغه زور وښايو
لکه خوشحال،د وخت اورنګ ته،د زړۀ شور وښايو
د جنګ په ضد ، په تشو لاسو پهلوانه بابا
اَرمان اَرمان ، په شيشم باغ کښې قدردانه بابا

خان سره بیا پښتون سنګر له ، ابدالی راؤله
خان سره هغه ازمرے اتل سوری راؤله
چې د پښتو سیمه ، یو ځل شی بیا ودانه بابا
ارمان ارمان ، په شیشم باغ کښې قدردانه بابا

د زړۀ په باغ دې ګلې شوې ، پښتون یاره منم
د وخت په ژرنده کښې دل شوې یې دلداره منم
زما رهبر ، زما دلبر ، فخرِ افغانه بابا
ارمان ارمان ، په شیشم باغ کښې قدردانه بابا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

راشه جامو له چې سور رنګ ، د انقلاب ورکړې بیا
زمونږه مړو جذبو له ، هغه شان شباب ورکړې بیا
د پښتونخوا د بڼ بلبله ، نغمه خوانه بابا
ارمان ارمان ، په شیشم باغ کښې قدردانه بابا

☆☆☆☆☆

O

ډېره خوږه د غم قيصه ده ـ وايه چپ ولې شوې
لا خو جانانه شپه اوږه ده ـ وايه چپ ولې شوې

ناسره غم دې ، د رقيب چې مو ځارنه کوي
بَله خو ستا د مخ ډېوه ده ـ وايه چپ ولې شوې

تا چې مُطربه کوم تارونه ـ د زړګي اوچېړل
دغه زما د درد نغمه ده ـ وايه چپ ولې شوې

آخر پښتو ده ، د خپل لوظ نه پۀ شا به نۀ شم
زما وعده هم پۀ وعده ده ـ وايه چپ ولې شوې

ورشه سنګر ته ، خپل دلدار له سرۀ ګلونه يُوسه
لوبه د ننګ غيرت توده ده ـ وايه چپ ولې شوې

وايه ساقي شبآب شباب دې پۀ کاسو مې اوله
غلې نيولې دې کاسه ده ـ وايه چپ ولې شوې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

وخت مو کاروان له یو جرس غواړی ساروان غواړی
مرام ته یُون له نن ملګری څو باغیان غواړی

حالات زمونږ نه تقاضا د مصلحت نۀ کوی
دور پرهر پرهر تصویر د خپل آرمان غواړی

د ښکلی پته د هغۀ د یارانې نه لګی
ښکلے زما پۀ سر ډالرې د "سپین خان" غواړی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

څوک د مهدی پۀ انتظار څۀ مسیحا ته ناست دی
پُښتون سنګر څو د شیر شاه غوندې نر ځوان غواړی

چې چراغان کړی پۀ تیَرو کښې د فکرونو څلا
وطن لمبه لمبه سر تېز انقلابیان غواړی

وخت رنګونه واړول ، اَرمان پهٔ مخه واخیستم
هېر مې رقیبان شو ، چې جانان پهٔ مخه واخیستم

وګورئ سِتم ته د سِتم د کلې اوګورئ
زهٔ د خپلې ژبې هر بیان پهٔ مخه واخیستم

ما چې ترې ګلونه د دُرخو اوربَل له اوغوښتل
دغې پسرلي لکه خزان پهٔ مخه واخیستم

زهٔ چې میکدې ته ماښام سترې سترې لاړمه
داسې بې نوا زهٔ ساقي جان پهٔ مخه واخیستم

ما چې شُونډې وسپړدې د زړهٔ راز مې څرګند کړلو
کلې کښې رسوا شومه جهان پهٔ مخه واخیستم

تهٔ راته قیصې د توربان د ناکړدو کوې
زهٔ د سړي خور دور انسان پهٔ مخه واخیستم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

شور کېږي د نفرت به زۀ د مينې نغمې وايمه
خبر دے کۀ اشنا د وخت طوفان پۀ مخه واخيستم

يار چې د رقيب سره لېلا خېلې نن جوړه کړه
څړيکې مې شباب وهي خفګان پۀ مخه واخيستم

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

پۀ دې غمژن ژوندون کېږې ، خوږه اَشنا
د خوشحالۍ سندرې ، بَدې لګی
چې هر کالۀ کېږې ، د وَخت مړے پروت دے
نو د ښادۍ سندرې ، بَدې لګی

د وطن د سوهني ياره
اے دَ خيال گُل گُلزاره
د اقبال د فکر څله
د خوشحال د شملې وَله
ستا جُرات ته مې سلام دے
د قام زړهٔ کښې ستا مقام دے
کهٔ پهٔ خټه پنجابے يې
مور راوړے نر بچے يې
د دې دور لوې اَمر ته
سَر دې ټيټ نهٔ کړو جابر ته
اولس وينه درکړه راغلې
کاروان مينه درکړه راغلې
مُبارک شه چې بحال شوې
د وطن پهٔ جبين خال شوې
اے پهٔ لويه کُرسۍ ناسته
د وطن پهٔ چوکۍ ناسته
ستا جلال دے هم جمال دے
خو زما زړهٔ کښې يو سوال دے

تهٔ غلام ابن غلام يې
لوئې منصف برائې نام يې
ستا د پاسه ناست ماؤت دې
بنهٔ وهلې ئې پرلت دې
چې نظام د سرمايې وی
او چې راج د تورې شپې وی
تهٔ آزاد نهٔ يې سکنجه يې
تهٔ د دې نظام حصه يې
تهٔ سرې يې د زردارو
محافظ يې د بادارو
دا باچا او سالار څوک دې؟
دا جلاد او پهٔ دار څوک دې؟
ستا قلم کښې هيڅ زور نيشته
ستا منصب کښې هم شور نيشته
کچری ده کهٔ تانه ده
د زردار سره ګانه ده
څنګ به غلو ته لارې څارې
چې پيشو ته غوښې سپارې
دا چې څومره اَهلِ کار دی
اَهل کار د جاګير دار دی

دا بریَخي د خانانو
نوکران د څو غټانو
چې د جنګ ښامار پرشیږي
د ګرانی بلا ځربیږي
وطن جوړ د جنګ میدان دے
لکه ښارِ ناپُرسان دے
ښُکلے سوات کۀ اَمېله ده
اَمن دلته د مار ښپه ده
هیڅ پۀ پته نۀ پوهیږو
د خپل سیوری نۀ ویریږو
چې غازی ، او شهید څوک دے؟
چې حُسینؓ او یزید څوک دے؟
یوه سیمه د مقتل ده
باچائی چې د ځنګل ده
ملک پۀ کُفر نۀ ورانیږي
پۀ زور ظُلم تباه کیږي
د ډالر سپے لیونے دے
د سرو زرو سخے ژوندے دے
چې قانون د زور او زر وی
خامخا به لر او بر وی

PUKHTO.NET
پښتو دا ټاټ نیټ

خود به تله کښې پارسنګ وی
حق به تاسره په جنګ وی
دې حالاتو کښې جانانه
دې نظام کښې په ما ګرانه
سترګې غواړې د ړندو نه؟
رڼا غواړې د تیَرو نه؟
دا نظام به سیزل غواړی
دا دستور به کړل غواړی
چې مُردار د وخت قارون شی
باچائی به د قانون شی
چې فرغون ، هامان هلاک کړې
نو بیا هله به خپل واک کړې
مزدوران ټول تاسره دی
مظلومان ټول تاسره دی
خپل کاروان له واپس راشه
خپل ارمان له واپس راشه
چې دا زوړ نظام بدل کړو
چې تقدیر د قام بدل کړو
د عدل رباط به وا شی
د انصاف تله به ستا شی

PUKHTO.NET
پښتو دا ټولو ژبه

O

یاره قسم دے بَلا بنُکلے یې ، دروغ نۀ وایم
ما ته د هر چا نه ښاغلے یې ، دروغ نۀ وایم

اوس مې پۀ کلی کښې ، زړۀ خدائیګو یو پُوتیے نۀ لکی
تۀ چې د کلی نۀ وتلے یې ، دروغ نۀ وایم

دا ستا غندل غندل څوانی او ګل ورین خیالونه
هیله اوس څائے ته رسیدلے یې ، دروغ نۀ وایم

هسې پۀ بیَه به مې واخلې ، کۀ یو ځلې راغلې
پۀ زړۀ مې ډېر راوربدلے یې ، دروغ نۀ وایم

تا چې وئیل زۀ به شها ، پۀ سره ډولۍ کښې راوړم
د زر او زور نظام کبنلے یې ، دروغ نۀ وایم

زۀ هم د وخت ناکردو ، ښۀ پۀ مخه کړے یمه
تۀ هم حالاتو ژړولے یې ، دروغ نۀ وایم

○

د ګودر غاړه ، سینګار کړه پسرلیه
د نظر غاړې ګلزار کړه پسرلیه

د اُلفت جامونه راوړه ، چې ئې وڅښم
خوږ احساس راله ، خُمار کړه پسرلیه

زهٔ پهٔ قدر د ښائیست ، د ناز پوهیږم
څوک د ښکُلی یار دلدار کړه ، پسرلیه

مودې وشوې ، انتظار دې د وصال کړم
ما د خپلې غاړې هار کړه ، پسرلیه

پَرهرونه د مئینو ، چې لبْز وَر شی
دا رنګونه لبْز ایسار کړه ، پسرلیه

خپل شباب به پهٔ تا ، وشنیدمه خُدائیګو
شمع بَله د دیدار کړه ، پسرلیه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

ګُله هجران ستړے کړم
تور شبستان ستړے کړم

اَرمان مې تږے ساتې
ډېر ساقي جان ستړے کړم

لَشې لَشې ژوندونه
غم د دوران ستړے کړم

وَږنی ښائیست د ډیوې
زُول او طوفان ستړے کړم

زهٔ د ثواب او ګناه
یقین ، ګُمان ، ستړے کړم

غوارم آئین د مینې
دغې ارمان ستړے کړم

د بل پهٔ لمسه تیروٌت
ساده جانان سترے کړم

ګُل د هُنر مې سوَزی
سوال د باران سترے کړم

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

تورې شپې پسې سحر راځی ، ملګرو
د روژې نه پس ، آختر راځی ملګرو
داسې ښکاری جوړ خزان پهٔ وروکېدو دے
یو ورمه د لوړ خیبر راځی ملګرو

# تحریک

ستا د سنګر کلک او کوټلے تحریک
پۀ تحریکونو کښې ښاغلے تحریک

د پښتو بن کښې چغېدلے تحریک
پۀ خپله خاؤره لړزیدلے تحریک

د ژوند تیَرو کښې ځلیدلے تحریک
ګُلهم نړی کښې غمېدلے تحریک

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د اَزادۍ د باب سپیځلے تحریک
د زړۀ پۀ وینو روزیدلے تحریک

هغه سامراج ته قهریدلے تحریک
د وخت فِرنګ ته پاریدلے تحریک

هغه بابا پۀ اَباسین لاهو شو
د ننګ مېدان کښې لوبیدلے تحریک

○

چې ستا نظر صیاد صیاد دے ، لونګینه یاره
زما د زړهٔ بُلبل ناښاد دے ، لونګینه یاره

هغه چې ما او تا ، قسم د محبت کړے وهٔ
هغه تر اوسه ماته یاد دے ، لونګینه یاره

بیا پرې د وخت چنګیز راغلے دے ، لښکرې کوی
دا زما زړهٔ هم سم بغداد دے ، لونګینه یاره

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

زهٔ به د عشق میدان کښې جنګ ، د مینې خنګ کتمه
ستا د رقیب چې اتحاد دے ، لونګینه یاره

خود به د هجر پهٔ زندان کښې ، ورځې شپې تیروُم
چې مې ارمان پهٔ زړهٔ شِداد دے ، لونګینه یاره

چې تهٔ آقا زهٔ دې غُلام ، نو حال مې څله پوښتې؟
غُلام وګړے خو برباد دے ، لونګینه یاره

راځه چې جنګ ، نفرت ، غُربت سره جنګونه وکړو
دغه د نن آصلی جهاد دے ، لونګینه یاره

لا د جبر درَنه شپه مې ، هُم پهٔ سَر ده
لا مرام ته فاصِله مې ، هُم پهٔ سَر ده

پهٔ يو لاس کښې مې قلم دے ، بل کښې تُوره
د پښتو جګه شمله مې ، هُم پهٔ سَر ده

د وَحشت بچو ، چمن تالا تَرغه کړو
د ګُلونو خصمانه مې ، هُم پهٔ سَر ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د بېګا صبا د خېټې غم مې ، هُم دے
د حسينو يارانه مې ، هُم پهٔ سَر ده

د خپل ځان پهٔ غم چې ژاړې ، ځناور دی
آدم ذات يم ، خپلخانه مې هُم پهٔ سَر ده

ستا د وصل د سپرلى پهٔ سَمى زغلم
يم شبابؔ ! د زړهٔ قيصه مې ، هُم پهٔ سَر ده

O

نوی ښکاری پېژنم ، دام پېژنم
شپه او سحر ، سکنې ماښام پېژنم

رقیبه وایه ، سپورې ستغې وایه
زهٔ د لفظونو احترام پېژنم

د محبت پهٔ معنی ، هم پوهیږم
ناصحه ! زهٔ د عشق انجام پېژنم

پهٔ نوم د میو ، زهر مهٔ راکوه
می او ساقی ، میخانه ، جام پېژنم

تا لا تر اوسه پیژندلے نهٔ یم
زهٔ خو جانانه ستا مقام پېژنم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## حُسینؓ ته د عقیدت پیرزوني

خُدایه روان مو کړې په لار ، د سیاست د حُسینؓ
زمونږ په ژوند باندې راخور کړې ، محبت د حُسین

چې سَر ئې ټیټ نه کړو وحشت ته ، د یزید او شمر
مونږه هم شمار کړې قافله کښې ، د مِلّت د حُسین

هر یو شمر ئې تمبولے دے ، په نره غیرت
ولاړ یُو خُکه په مړانه او غیرت د حُسین

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

یزید ظالم کۀ ورته ډیر کړل ، لښکرونه راغونډ
خو یو پوټے ئې روستو نۀ کړو ، لوړ همت د حُسین

په خپل ایمان او عقیده چې ، ټینګ ولاړ پاتې شو
شاباسے وایُو ، تل په تُوره او سیرت د حُسین

دُنیا حیرانه ده ، د څو تنو د ننګ او پت ته
چرته لښکرې د یزید ، چرته جرأت د حُسین

څهٔ اَرمانی د باچایی او د جاګیر خو نهٔ وو
تُوره ، مړانه ، بادری وه ، مملکت د حُسن

د تاج و تخت پهٔ نشه مست یزید ، پهٔ بنکته راغے
بل خوا ثانی نهٔ لری ، بې تاجه عظمت د حُسن

د نرۍ ټولو انسانانو له ، د حق نمونه
پاتې دے مونږ ته ، د دُنیا نه لوئے دولت د حُسن

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

ما به وا نهٔ خلې ، پهٔ بَیَه
ننګ ، پُښتو یمه ، خودی یم
د احساس ، پهٔ جېلخانه کښې
زهٔ د خپل ضمیر قیدی یم

○

د ژوند سپرلے نشته ، خندا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی
قاتل موسم دے ، ګُله تا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی

هغه طبیب چې د خپل رنځ تشخیص کولے نۀ شی
زړګیه داسې مسیحا ته مې ، خُلۀ نۀ جوړیږی

پۀ ړوند او کوڼ سماج کښې ، څنګ سندرې اووایمه
بې ذوقه خلق دے ، ویښا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

پُښتون ملنګ یم ، د پښتون جانان نۀ خبر غواړمه
کچکول کۀ تش لرم ، بل چا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی

مینه ګناه ده کۀ ثواب ، دغه پوښتنه کوؤم
د فتوؤ ویره ده ، مُلا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی

شبابؔ ئې داسې د ازغنو لارو یُون کښې تېر کړو
بس ئې کړه بس ئې کړه طِلا ته مې خُلۀ نۀ جوړیږی

○

ساده باده یُو ، چې مادي دور کښې مینه کوؤ
مونږ لیوني ، پۀ بارودي دور کښې مینه کوؤ

دلته د مینې د اُلفت پۀ معنٰی ، څوک پوهیږي؟
د چا خبره ، چې وحشي دور کښې مینه کوؤ

هر یو آرمان مو د آرمان تر حده پاتې شي بس
مونږ اَرماني پۀ اَرماني دور کښې مینه کوؤ

د اَباسین پۀ غاړه هُم ، له تندې مرو جانانه
لکه حُسینؓ پۀ یزیدي دور کښې مینه کوؤ

د مُهذبې پیړۍ ، څومره زهرژن دے آدم
د ژوند ځنګل دے، آزاري دور کښې مینه کوؤ

پۀ پخواني دور کښې دومره ګرانه نۀ وه اشنا
کمال خو دا دے ، اوسني دور کښې مینه کوؤ

صادق سبا نیشته شبآبه ، د اشنا وعده کښې
د مینې اوږدي ، قات سالي دور کښې مینه کوؤ

O

چې د ژوند ، د ارتقا سندرې وائيم
زمانې ته ، ياره ستا سندرې وائيم

زما مينه ، زما وينه پُښتنه ده
زهٔ د خپلې پُښتونخوا سندرې وائيم

د احساس ژبه ، قدغن نهٔ منی واوره
زهٔ فنکار به ، خامخا سندرې وائيم

PUKHTO.NET

لکه ګُل پهٔ پريشانی کښې هم موسيږم
پهٔ ژړا کښې د خندا سندرې وائيم

اے زاهده ! زمونږ مينځ کښې فرق دا دے
تهٔ د مرګ ، زهٔ د بقا سندرې وائيم

وائی ستا قلم باغی ، فکر مرتدّ دے
زهٔ شبابؔ ! چې د رڼا سندرې وائيم

ستا د آرمان غوټۍ ګل شوې ده ، وړمې رانولې
موسم رنګونه شیندي ، زړونه ګلاګانې کوي
چې د رڼا د کوره راغلې رڼاګانو سره
اوس به د شپې اژدها ساه ورکړي مرګونې ښکارې
تا چې ژړګۍ له مې نویاته شان ډالۍ راوړله
په ترارو شونډو ئې زما هسې مُسکا راوسته
ښه ده د ستر خوشحال اَرمان پوره شو خوند ئې وکړو
تا چې آسمان کښې نن په ستورو خیټې واچوله
لکه باران راغلې د ژوند په ځَل وهلې سیمه
د پښتونخواه وجود کښې ساه راغله ژوندون راغے
اوس به نظام بدل شي ، تاج به د قلم په سر شي
حکمراني به د قانون وي ، د ټوپک به نه وي
د عدالت او مساوات په معنیٰ پوې زیرکه !!
اوس به دا لوړه دې ژورې ته رانښکل هم غواړي
ناوې د ژوند به سره ډولۍ کښې په جنجیانو راوړې
چې دا بې وزله هُم د ژوند په خوند او رنګ پوهه شي
د تخیّل مارغهٔ دې داسې لوړ اَلوت کړے دے

اے نظو بازه ! لکه باز دې درست جهان لیدلے
مونږ د مودو مودو لیواله تنده غرو له تا
ساقي ! پهٔ مینه مینه ډکې پیمانې راوړلې
نن به د هر مزدور د لاس پُولې تکور وموی
اوس به بچی مزدوری نهٔ کوی سبق به وائی
د ژوند پهٔ کور کښې دې د مور "پښتو" دعا اخستې
وېریا جنت دے د مور پښتو کښې ځکه بیا موندے دے
د پُښتونخوا لمن دې نوره هم سینګار کړه ګُله !
د یوسفزو شمله دې بَت کړه نوره هم جګه شوه
ستا د روښان ذهن نه ځار شم د قدیر سیوریه !
د پُښتونخوا جنده دې هسکه کړه پُښتون بچیه
اے د بابا بچیه ! تا باندې سلام وایمه
د نوی ژوند د کامرانی ومبارکی واخله
ستا نوم پُښتون دے ، پهٔ مطلب د پُښتو ښهٔ خبر يې
د آزادی او آبادئ پهٔ مفهوم ښهٔ پوهیږې
ستا پهٔ شبابّ دې آفرین وی ستا پهٔ فکر ګُله !
د ګجو خان پهٔ سیمه بل یو "اورنګ شاه" پیدا شو

---

د ماڼکي کلي ډاکټر اورنګ شاه چا چې امریکه کښې هم د پښتو ، پښتونولي او قام پرستۍ لمن کلکه نیولې وه۔او د پښتون اولس د بقا د پاره ئې خپل سر صدقه کړو۔

٥

راشه چې وچيرو ، نغمه د ژوندون
ما ګوَرې وژني توره شپه ، د ژوندون

د وخت سيلۍ ده ، پهٔ رڼا مېئنو
پام کوئ مړه نهٔ شي ، ډيوه د ژوندون

احساس مو ژوبل ، ساندې ساندې غزل
ډېره ترخه ده ، لا قيصه د ژوندون

زړونو کښې کَر ، د خوږې مينې کوو
دغه ده ياره ، فلسفه د ژوندون

جام د ديدن راوړه ، ساقي جانانه
دا ستا وصال ، زما نشه د ژوندون

راشه سمسور کړه ، جَل وهلے شبابّ
ګنې اوځي مې ، جنازه د ژوندون

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

o

د ژوند پیتي مې پهٔ سر دے ، خو روان یم
پروت لا ماته لوئے سفر دے ، خو روان یم

زما ستا مینځ کښې بیلتون راولی یاره
د رقیب سره مې شر دے ، خو روان یم

پهٔ سفر یم د ښائست د نمر ارمانه
زړهٔ کښې ډېر د شپې اوتر دے ، خو روان یم

سرهٔ ګلونه ځم کرم د اُلفتونو
بیابان للمه بنجر دے ، خو روان یم

ځم اوبهٔ د اَباسین د غاړې ځښمه
کهٔ اولاړ راته شمر دے ، خو روان یم

○

پهٔ خوږ لن زړهٔ یو نامه ده ، چې خوږه ده
درست جهان کښې یو کُوشه ده ، چې خوږه ده

ستا د یاد تصویر مې سترګو کښې کلیږی
د هجران ناترسه شپه ده ، چې خوږه ده

ترې صبریږم نه واغظه پهٔ قلار شه
بس د عشق ترخه قیصه ده ، چې خوږه ده

ستا خُویونه کهٔ جانانه مُغل وال دی
زما مینه پُښتنه ده ، چې خوږه ده

کائینات پرې ټول شبابه ! سندریز شی
ستا ژړا د سوز نغمه ده ، چې خوږه ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

زما ساده لالیه ، وَخت بدل دے
ما پسې ښار ګودر ته ، څله راځې
کۀ مې دیدن کړې ، انټرنیټ ته کښېنه
زمونږ کوڅې او در ته څله راځې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

تۀ چې بل کره د شپې غُنډې وَرولې
پۀ ډالۍ کښې به ګلونه ، راوړې تاله ؟
چې دستور د زمانې ، خپله رنځور وې
خامخا به سل رنځونه راوړې تاله

# جنګ

لا د "جرمن" لام فتح شوې نۀ وُو
لا د "ویټ نام" قیصې مو هېرې نۀ وې
لا د "کابل" غم مو ژړلے نۀ وُو
لا د "سوډان" اوښکې تَم شوې نۀ وې
د "سومالیې" دَرد پۀ شا شوې نۀ وُو
لا د "جاپان" سلګۍ قلارې نۀ وې
د "چیچنیا" څړیکې لا غلې نۀ وې
د "فلسطین" وینې لا وچې نۀ وې
د "بوسنیا" زخم ورغلے نۀ وُو
د "کوریا" داغ ټکور شوې نۀ وُو
لا "غرناطه" ځائے له راغلې نۀ وه
لا د "فارس" سنګر سوړ شوے نۀ وُو
د "لیبیا" آه وِدریدلے نۀ وُو
لا "فانامه" هوش کښې راغلې نۀ وه
د "هِند" "خیبر" هډ دَمه شوے نۀ وُو
لا د کشمیر اور دَپه شوې نۀ وُو
چې یو یزید ، د خپل هوس نشه کښې
د اقتدار د خوړونې پۀ نیت

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نیټ

بیا یو شمر د زر او زور په مرسته
په مظلومانو کربلا جوړه کړه
بیا د بغداد پرهر پرهر وجود ته
یو تره ګر ، د شپې تیلې او وهٔ
بیا یو نمرود ، د ابراهیمؑ په خاوره
د جبریت اور کښېږي ، خلیل سوزَوی
بیا یو چنګیز او هلاکو راغلے
د کپرو نه ، مُنارې جوړَوی
بیا یو هټلر ، د جنګ د ناز په ادا
خپل نازیت ، په درست جهان خورَوی
بیا یو جلاد ، د بغداد ښار ته راغے
منصور حلاج ، په دار کوی ملګرو
بیا سکندر ، نوے تاریخ جوړَوی
ګرده نړۍ ، خپله جولۍ کښېږي نغاړی
بیا یو شداد د خپل طاقت په سیوری
هر یو وګړے ، بې ګُناه وژنی
بیا یو فرعون ، د خُدائے دعویٰ کړې ده
په سامراجی لاسو ، موسیٰؑ رانیسی
بیا یو حجاج بُوټی د وینې وشبنکه
فصل د سَر ورته ، پوخ شوے ښکاری

بیا یو چوچل ، رنګین خوبونه وینی
د سرو مرغی پسې ، راغلې ښکاری
بیا یو اورنګ د تاج و تخت له پاره
هر یو دارا ، شُجاع ، مُراد وژنی
بیا بلازویچ تُوره په لاس راغلے
بنده وژل ورته ، یو لوبه ښکاری
بیا یو هامان ، د خپل مسلک په خاطر
په هر چا ، خپله عقیده وَرتپی
بیا یو شری ، شر د خدائے کور له راوړو
ګرجه ، جُومات کښې انسانان وَژنی
بیا یو قارون ، د خزانو د پاره
د هر هېواد نه ، سیم وزر چَلوی
بیا اَبراها په سپېرهٔ نیت راغلے
د هر انسان د زړهٔ کعبه نَړوی
بیا بوناپاټ د ژوند مری پرې کوی
بیا د برزنیف یَرغل ، کوډلې سېزی
بیا یو جابر ، د "بدهـ" کونتره سېزی
وَژنی د اَمن پیغمبر ملګرو !
بیا تورَبان ، د یویشتمې پیړی
د ښاپیری په مخ نُوکارې راښکې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بیا یو فاشسټ مسولیني راغلے
انسانیت وژني ژوندون وژني
بیا یو د سپینې ماڼۍ ، سپین تور زړے !
نوې وسله ، په مظلومانو ګوري
نه څۀ قانون ، آئین ، دلیل ته ګوري
نه د قامي اتحاد ، تړه مني
څۀ دے "نیوورلډ اَرډر" د ژوند ملګرو !
بس د ځنګل د باچائۍ دَستُور دے
لکه چې شرمخ ، په بې وَزله ور شي
یا خړ سیلاب ، مخ په ژوره ور شي
داسې بې مالکې ، لکه سپینه جُوثه
چې نۀ ئې حِس شته ، نۀ په دَرد پوهیږي
لکه روبوټ چې ذهن ، زړۀ نۀ لري
ورته انسان وېل ، د انسان توهین دے
کۀ د ژوندون اِرتقا ، دې ته وائي
دا ارتقا په اَباسین ، لاهُو شه
کلي خو نۀ کیږي په زور ملګرو !
ګټل د زړۀ ، د سلطنت پکار دي
داسې نظام ، چې تهذیبونه نغاړي
داسې نظام چې کلتورونه وخوري

داسې نظام ، چې نورې ژبې پرې کړی
داسې نظام چې ترهه ګر زیږوی
داسې نظام نه ، بغاوت پکار دے
چې صُم" بُکم" باندې ، نۀ پوهیږی
بیا لیونی سپی له ، قضا پکار وی
چې ترې د زمکې مخلوق ، ساه واخلی
انسانیت ترې نه ، خلاصے ومومی
ټول کائنات ترې نه ، قرار ومومی
ګرده فضا ده ، بارودی ملګرو !
نن آلودګی ، پۀ ټول جهان خوره ده
د کائنات څهره ، دوړجنه ښکاری
نړۍ کښې ورم ، د لاشونو خیژی
نۀ وږمې شته دے ، نۀ ګلونه ښکاری
اور د نفرت کښې سوزیدلی ښکاری
دنیا ترې ټوله ، پۀ لړزان آخته ده
هر څوک پۀ خپل کور کښې ، بې کوره ښکاری
داسې ښکاریږی ، د ژوند حق نۀ لرو
دا ټیټ سرونه به ، تر کومې ټیټ وی
بائیلات زمونږه ، چې تقدیر جوړ شوے
وینه زمونږه ، چې آرزانه ښکاری

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

نن چې تاریخ ، زمونږ نه مخ آړوی
د دې پهٔ شا ، څهٔ وجوهات پراتهٔ دی
زمونږ پهٔ وینو کښې ، سُور والے نشته
زمونږ صفونو کښې ، یو والے نشته
زمونږ ذهنونو کښې ، وهمونه اوسی
د جهالت ، تک تور تمونه اوسی
علم ، رنړا ، علم ، وَسله ، د دوران
ژوند خو عمل دے ، ارتقاء ملګرو
مونږ د ګناه ثواب ، پهٔ جال کښې ګېر یُو
مونږ د مهدی پهٔ طمع طمع ناست یُو
چې د ژوند ګاډے به ، پهٔ مخکښې بوځی
نن هم اَتکل باندې مونږ ژوند تېرَوو
مونږه د ژوند پهٔ معنٰی پوهه نهٔ یُو
د اجتهاد پهٔ مفهوم پوهه نهٔ شُو
زمونږ شعور لا ، بالغ شوے نهٔ دے
مونږه د سائنس پهٔ معنٰی ، پوهه نهٔ یُو
مونږه لا قید یُو ، د خپل ذات حصار کښې
مونږ د رواج پهٔ زنځیر ، ځان تړلے
مونږ ته لا اوس هم ، هر فن جُرم ښکاری
مونږ ته لا اوس هم ، کلتور تړوقه ښکاری

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

مونږ د قلم په قدر پوهه نه یُو
په څو ډالرو مو ، ایمان بائیلو
هم مو لیلا ، هم مو جانان بائیلو
نوره په صبر او ځارو نه کیږی
په دعاګانو او ښېرو نه کیږی
د خپله سره نن ، دانګل پکار دی
خپلې کښتی ، ټولې سېزل پکار دی
دوی له نن بیا ، یو ابدالی پکار دے
کاش ! چې حاجی د تورنګزو ژوندے وے
افسوس دے ، چې شیرشاه موجود وے
اَرمان اَرمان ، چې پیرروښان ژوندے وے
تُوره قلم چې ، د خوشحال په لاس وے
د ایمل خان او دریا خان لښکر وے
چې د لودی او میروس خان پُښتو وے
چې د جندول عمراخان ژوندے وے
یا د پنجتار مقرب خان ژوندے وے
نن چې پټکے د باکو خان ، په سر وے
د ګجو خان او کالوخان سنګر وے
وہم چې نجیب د مانیری سالار وے
وہم چې جنده ، د باچا خان په لاس وے

PUKHTO.NET

سپینه مانۍ به بې مهاره نۀ وه
تموله نړۍ به ناقلاره نۀ وه

---

## قطعه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

تۀ پۀ یوه او زۀ پۀ بله لاره
هسې مې تمول عمر څارله لاره
زما او ستا لاره ، جُدا جُدا ده
تۀ ځه پۀ خپله ، زۀ پۀ خپله لاره

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

طلامحمد شبابؔ د ضلع صوابی د یوسفزو د مردم خیزې خاورې یو تکړه متحرکه او باعمله ځوان دے د پښتو ژبې او شعر و ادب د خدمت له کبله پهٔ کرده پښتونخوا کښې خپل مقام او پیژندګلو لری۔ کومه چې زمونږ د یوسفزو د پاره خصوصاً د فخر او ویاړ خبره ده۔

هغه د یو ښهٔ شاعر نه علاوه یو ښهٔ نثر نګار هم دے ما د پښتونخوا د ډیرو شاعرانو نظمونه لوستی دی او خوښ کړی مې هم دی خو زهٔ د طلامحمد شبابؔ نظمونو دومره متاثره کړے یم زهٔ وایم کهٔ چرې زهٔ باچا وے نو ما به طلامحمد شبابؔ ته پهٔ دغه شاهکار نظمونو لاهور کلے پهٔ انعام کښې ورکړے وهٔ۔

(هوښیار باچا)

**طاهر بخاری**

وړوکے لاهور 09-07-02